# لس مشهوري ناروغۍ

## پېژندنه، لاملونه، نښې او درملنه

۱. زکام
۲. شری
۳. ملاریا
۴. سینه بغل
۵. برانشولایتس
٦. شجیلوزس
۷. منځني غوږ التهاب
۸. حاده اوبلنه نس ناسته
۹. د نویو زېږېدلو ماشومانو زیړی
۱۰. د نویو زېږېدلو ماشومانو اسپیکسیا



Ketabton.com

داکتر سید ملیار سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لس مشهورې ناروغۍ

# TOP TEN DISEASES

ډاکټر سید ملیار سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب ځانګړني :

دکتاب نوم لس مشهورې ناروغۍ

لیکوال ډاکټر سید ملیار سادات

چاپ کال ۱۳۹۵ هـ

سکن کوونکي: عزت الله سلطانزي

پرلیکه کوونکي عزت الله سلطانزي

دا کتاب د خان کتابتون څخه ډانلوډ شوي دي

یادونه : ګرانو لوستونکو که تاسی د کوم کتاب سافټ لري مهرباني وکړي زمونږ برېښنالیک ته یې را واستوۍ مونږ به یې په ټولنیزو شبکو او ویبپاڼو کي نشرکړو .

Esultanzai@hotmail.com

azatullahsultanzai@gmail.com

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


۱-زکام COMMON COLD ........ 3

۲-حاده اوبلنه نس ناسته ACUTE WATERY DIARRHEA ........ 11

۳-سینه بغل / نمونیا (PNEUMONIA) ........ 24

۴-ملاریا (MALARIA) ........ 33

۵-برانشیولایتیس (BRONCHIOLITIS) ........ 45

۶-شری/ سرخکان MEASLES (RUBEOLLA) ........ 50

۷-شیجیلوزس SHIGELLOSIS (BACILLARY DYSENTERY) ........ 57

۸-د نوو زیږیدلو ماشومانو ژیړی NEONATAL JAUNDICE ........ 61

۹-د منځني غوږ التهاب OTITIS MEDIA ........ 79

۱۰-د نوي زیږیدلي ماشوم اسپیکسیا BIRTH ASPHYXIA ........ 85

ماخذونه ........ 95

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب خپل ګران ارواښاد پلار، ګرانه مور او ګران ورونه هریو ډاکتر صحرايي سيد، سید اجمل سادات، زیرک ذهین او اسدالله سادات ته يې په ادبي او ښتنه مینه ډالۍ کوم.

() () ()

په دوهم قدم کې يې هغو ډاکترصاحباتو ته ډالۍ کوم چې نفسونه يې د طبي تجارت څخه پاک دي او د هرناروغ درد خپل درد بولي او د ناروغانو د ښې روغتيا لپاره هلې ځلې کوي.

() () ()

ډاکترسیدملیار سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپلې خبرې

ټول حمد ، ثنا او صفتونه هغه ذات لره دي چې په خپل ذات او صفاتو هيڅ شريک نه لري خپل کامل قدرت سره يې داستر نړۍ پيدا کړې او د ډېرو اوچتو صفاتو خاوند دی، چاته چې وغواړي عزت ورکوي او چاته چې وغواړي ذلت ورکوي .

وروسته د حمد او ثناڅخه د لوی الله شکر ادام کوم چې وروسته دډېرې مودې څخه بې زه د دې جوګه کړم چې يو ځل بيا دخپلو هېوادوالو د علمي سطحي د لوړوالي لپاره يو علمي اثر چمتو کړم .

افغانستان يو ډېر غريب هېواد دي اوخلک يې د ډول ډول اقتصادي ستونزو سره لاس په ګريوان دي او هغه صحي خدمات چې د يوې سالمې روغتيا لپاره اړين ګڼل کيږي په بشپړډول سره نه دي چمتو ، چې همدا لامل يې دي چې ورځ په ورځ ساري او غير ساري ناروغۍ مخ په ډېريدو دي او د ډېرو ماشومانو ژوند يې د ګواښ سره مخ کړی، نو همدا وجه وه چې زه يې دې ته اړ کړم چې د هغه ناروغيو په اړه چې په ماشومانو کې ډېر وقوعات لري او مرګوني اختلاطات لري او هم نوموړې ناروغۍ زموږ په ټولنه کې په سرکې دي يعنې زموږ په روغتونونو ،روغتيايي مرکزونو او شخصي کلينيکونو په ناروغانو کې همدغه ناروغۍ دي چې زموږ د ناروغانو ډېره فيصدي جوړوي ، نو په همدې خاطر مو دغه کتاب مو (لس ټاپ ناروغۍ ) يا Top ten diseases ) زکام، نس ناسته، نمونيا، وينه لږونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library




اسهال، برانشیولایتس، ملاریا، شری، د نووزیږیدلوماشوماتوژیړی، د منځني غوږ التهاب او د نووزیږیدلوماشومانو اسپیکسیا) باندې ونوموو، د دغه کتاب په لیکلوکې د نړیوال منل شوو طبي کتابونو او هم د هېواد په سطحه د معتبروکتابونو څخه په کې استفاده شوې ده، نوموړې کتاب په ډېره ساده او اسانه ژبه چمتو شوې او ټول ډاکترصاحبان او خصوصاً د طب پوهنځي ګران محصلین ترې ډېر په اسانۍ سره استفاده کولای شي، زه د لوی خدای له دربار څخه غواړم چې نوموړې کتاب زما لپاره صدقه جاریه وګرځي او د هېوادوالو داستفادي وړ وګرځي.

سید ملیار سادات
کنړ ولایت، نورګل ولسوالي
سیدانو جونګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# (1)
# زکام
# Common Cold

زکام یا Common Cold د علوي تنفسي لارې یعنې د پوزې او ستونې او ساینوسونو خفیف ویروسي انتان دی چې د پوزې بلاک یا بندښت رامنځ ته کوي چې دغه بندښت په اوبه لرونکې پوزه، پرنجي او د ستونې درد او ټوخي سره تعقیبیږي په ابتدايي ډول سره اکثره پوزه (Nose) متاثره کوي همدارنګه په دوهم قدم کې ستونې مصابوي چې د Pharyngitis لامل کېږي، ساینوسونه هم مصابوي چې Sinusitis لامل ګرځي که چیرته څنډنې شي نو Conjunctivitis ورکوي چې زیاتره وخت د یوه ناروغ لپاره ډېر ستونزمن تمامیږي، زکام یوه عامه او په خپله ښه کیدونکي ساري ناروغي ده چې د مختلف ډوله وایروسونو په واسطه منځ ته راځي، زکام یا common cold د پورتني تنفسي لارې انتان دی چې د 200 څخه یې زیات ډوله وایروسونه پیژندل شوې دي چې د زکام لامل ګرځي چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Rhinovirus تقريباً د 40%-10% د ټولو کاهلانو د زکام عامل جوړوي.
همد ارنګه نور وايروسونه چې د زکام په رامنځ ته کېدو کې رول لري د Coronavirus,adenovirus,respiratory syncytial virus او Parainfluenza virus څخه عبارت دي، نو په همدې خاطر باندې زيات ډوله وايروسونه د زکام د رامنځ ته کېدو سبب جوړيدای شي څکه چې د زکام نوي وايروسونه په پرله پسې ډول سره رامنځ ته کېږي او بدن هيڅکله د دغه وايروسونه په مقابل کې مقاومت نه کوي. په حقيقت کې د مکتب څخه مخکې دورې کوچنيان او د ابتدايي ښوونځي کوچنيان په کال کې د شپږو څخه تر دولس ځلې پر زکام اخته کېږي په داسې حال کې چې کاهلان په کال کې د دوو څخه تر څلورو ځلو پورې په زکام باندې اخته کيږي، زکام په مکرر ډول سره په مني او ژمې په موسومونو کې زيات منځ ته راځي او په نړۍ کې د ټولو څخه زيات رامنځ ته کېدونکې ناروغي ده او د نورو ناروغيو په پرتله ډاکټر ته دتګ تر ټولو زيات سبب جوړوي او هم د ښوونځي ته د تګ او د ورځنې کارونو پروړاندې ستونزې جوړوي.

## د انتقال لاره او ميکانيزم:

زکام يا common cold د نورونو منتنو خلکو څخه د هوايي معلقو څاڅکو، مستقيم تماس يعنې د ټوخي او پرنجې او په منتن لوښو کې د خوراک کولو څخه منځ ته راځي، زکام هغه وخت منځ ته راځي کله چې د زکام ويروس د پوزې او يا ستونې څنډو پورې ونښلي چې په دغه وخت کې معافيتي سيستم د دغه ويروس له منځه وړلو لپاره د وينې سپين حجرات (White blood cells) استوي چې دغه د ويروس په مقابل کې ابتدايي شخړه ناکامېږي او پوزه او ستونې پړسوب کوي او ميوکس جوړوي او په مقابل کې يې زکام منځ ته راځي، د مثال په ډول rinovirus د ناروغ شخص څخه د مستقيم تماس په واسطه روغ شخص ته انتقاليږي چې وروسته د انتقال څخه د يو ناپيژندل ميکانيزم له مخې نوموړې ويروس د Human

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ICAM-1 receptors** سره باند جوړوي چې د دغه باند جوړېدو په صورت کې **Inflammatory mediators** ریلیز کیږي چې د دغه التهابي میډیاټورز د ریلیز کیدو په نتیجه کې ناروغ ته اعراض پیداکیږي مګر نوموړې ویروس په عمومي ډول سره **Nasal epithelium** ته کومه صدمه نه رسوي مګر د بل طرفه **respiratory syncytial virus** د مستقیم او غیر مستقیم تماس په واسطه د پوزې اپیتلیم تخریبوي او همدا ډول **parainfluenza** ویروس په قسمي ډول سره د پوزې ، ستونې او برانکسونو التهاب رامنځ ته کوي، په غټوماشومانو کې کله چې دا ویروس **trachea** متاثره کړي نو کېدای شي چې د هوایي لارې د تنګیدو له امله د کروپ اعراض ورکړي.

## ایپدیمولوژي:

زکام ( Common Cold ) د کال په هر موسم کې منځ راتلای شي خو زیاتره د ژمي او د پسرلي په موسومونو کې یې وقوعات زیات دي ، زکام یوه ډېره عامه انساني ناروغي ده او د نړۍ په هر ګوټ کې ترې خلک متاثره دي، زکام د عمر له لحاظه په هر عمر کې لیدل کېږي مګر په ماشومانو او زړو خلکو کې د ضعیف معافیتي سیستم له امله یې پېښې زیاتې لیدل کیږي، په پرمختللو هېوادونو کې د درستي حفظ الصحې له برکته یې وقوعات کم دي او هغه هېوادونه چې د پرمختګ په حالت دي وقوعات یې زیات دي. هغه خلک چې په ګڼو کورونو کې ژوند کوي او هم یې حفظ الصحه درسته نه وي او یا د ژمي په موسومونو کې په یخو سیمو کې کارونه کوي د دې ویروس سره زیات مواجه کیږي.

## اعراض او علایم:

## Signs and symptoms

د زکام وصفي اعراض په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بهیدونکي پوزه.(runny nose)
- ټوخی ( Cough )
- د پوزې بندښت(Nasal Congestion)
- د ستونې درد (Sore throat )
- پرنجی(Sneezing )

همدرانګه ځیني وخت د لاندې اعراضو سره ملګری وي

- د عضلاتو درد (Muscle Pain )
- ستړتیا(Fatigue )
- سردردي(Headache)
- د اشتها خرابوالی(loss of appetite)

## وده یا Progression :

زکام اکثره وخت د ستړتیا او د خستګۍ د احساس سره پیل کېږي چې ناروغ پرنجي او د سردرد ورسره لري او دوه ورځو په دوران کې بهیدونکې پوزه او ټوخی هم شروع کېږي، دغه اعراض امکان لري چې د زکام ویروس اخته سره د شپاړسو ساعتونو په موده شروع شي اوبیا د دوه یا دریو ورځو په دوران کې خپل اخرې حد ته لوړیږي چې دا بیا زیاتر وخت په د لسو ورځو په موده کې شفایات کیږي او هم کیدای شي دغه اعراض تر درې اونیو پورې پاتي شي، د ټوخي منځنۍ موده یې تر اتلس ورځو پورې وي او په ځینو کیسونو کې ناروغانو یو ډول توخی پیداکیږي چې د Post-Viral cough په نامه سره یادیږي چې کله کله دا ټوخي یو اوږد سیر پیداکوي.

## اسباب(Causes ):

### Virology

Coronaviruses یو ډله پیژندل شوې ویروسونه دي چې زکام رامنځ ته کوي، دغه ویروس کله چې د الیکترون مایکروسکوپ لاندې ولیدل شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج په شکل منظره لري، common cold د پورتني تنفسي لارې یو ویروسي انتان دی چې د لامل له نظره ځینې مهم ویروسونه د فیصدۍ له لحاظه په لاندې ډول دي.

1. Rhinovirus (30-80%)
2. Picornavirus with 99 known serotypes)
3. Human coronavirus (15%)
4. Influenza virus(10_15%)
5. Adenoviruses (5%)
6. Parinfluenza virus
7. Human respiratory syncytial virus
8. Enteroviruses
9. Metapneumovirus

## تشخیص (Diagnosis):

تشخیص یې زیاتره د عراضو د سیر او د اعضاوو د اخته کېدو د موقعیت پورې اړه لري

## مخنیوي (Prevention ) :

د زکام د مخنیوي لپاره یواځنۍ ممکنه او مهمه لار چې د زکام د ویروس خپریدنه او وقوعات راکم کړي فزیکي تدابیر دي لکه د لاسونو پریمینځل ، ماسک کارول ، همدارنګه په health car environment کې د چپن او disposable دستکشو استعمال دی.

- لومړې باید په دوامدار او منظم ډول سره وروسته د پوزې یا دخولې د مسح کولوڅخه او د غذا د چمتوکولو لاسونه باید په صابون باندې پریمینځل شي.
- همیشه باید پرنجی او ټوخی په یو دسمال او یا بل یو کاغذ کې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه کارې ساحې چې مورد هلته کار کاوو باید روزمره د میکروبونو څخه پاکې وي.
- د زکام ناروغان باید د خپلو ځانونو لپاره پیالې اولوحې جدا کړي.

د ماشومانو منظم لاسونه وینځل د زکام ویروس انتقال په کم والي د هر موثر دي همدرانګه هغه خلک چې د زکام په ویروس اخته دي د هغوي سره د خبرو کولو پرمهال باید ماسک وکارول شي اویا منتن اشخاص ماسک وکاروي، په کور ، دفتر او یا نورو کارني ځایونو کې باید نوموړې منتن اشخاص خپل د خوراک څښاک لوښي جدا کړي، نوموړې ناروغانو ته باید صحي تعلیمات ورکړل شي او د زکام د اضرارو څخه دې خبر کړای شي، Zinc سفلیمینټ استعمال هم یو څه موثر تامیرې څکه دا د زکام په پریویلانس کې کموالي راولي،نوو مطالعاتو ښودلې ده چې که چیرې د زکام د شروع کیدو په لومړیو 24 ساعتونو Zinc وکارول شي د ناروغی وخت او شدت کموي د Vitaminc C استعمال د ناروغی شدت نه کموي مګر وخت راکموي.

## اداره (Managment ) :

زکام کومه خاصه تداوي نه لري چې د انتان وخت راکم کړي او یوازې او یوازې اعراضي کراروونکي تداوي ورته توصیه کیږي لکه د بیلګې په ډول ناروغ ته باید پوره ارام وکړل شي، همدارنګه د ارام سره سره د زکام ناروغان باید کافي مایعات واخلي چې هایدریشن برقراره وساتي، د دې سره سره ناروغ ته اړینه چې په مالګینو اوبو سره غرغره وکړي، او ورسره د درد او د تبي لپاره د درد ضد درمل (analgesics) او د تبې ضد درمل ( antipyretics ) لکه Ibuprofen او acetaminophen/Paracetamol ورکړل شي، شواهدو ښودلې ده چې د توخي ضد درمل د انلجیزیکو په پرتله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکام کې دومره موثر نه دي او په کوچنیانو کې په زکام کې کوچنیانو ته د توخي ضد درمل نه توصیه کیږي.
په کاهلانو کې د زکام اعراض (runny nose ) امکان لري چې په first generation antihistamines سره راکم کړای شي، په هر حال دغه درمل په ناروغانو باندې adverse effects لري لکه د مثال په ډول drowsiness او داسې نور، همدارنګه نور decongestants لکه pseudoephedrine هم موثره تماميږي، د دې سره خوا کې Iprtropium nasal spray شاید په زکام کې اعراض راکم کړي مګر لږ موثر تماميږي.

## : Antibiotics and antivirals

په ویروسي انتان باندې انتي بیوتیک کوم تاثیر نه لري او نه یې په مقابل کې کوم خاص تاثیر تر سترګو کیږي او د دوی جانبي عوارضو له کبله انتي بیوتیک استعمال ضررناک تماميږي ،د انتي بیوتیک استعمال د ناروغ لپاره یو خاص استطباب او خاص ځای لري او باید چې په عادي حالاتو کې ونه کارول شي او که چیرې وکارول شي نو د ناروغ لپاره د اختلاطاتو لامل ګرځي او د ناروغ معافیت ته صدمه رسوي، تر اوسه پورې د زکام لپاره کوم خاص درمل نه دې تجویز شوي، یوازې د تبې ضد درمل توصیه کیږي تر څو د سر فشارونه کم کړي زکام ویروسي حالت دی او وروسته له یو څو ورځو څخه خپله ښه کیږي یعنې د ناروغۍ دوره یو څو ورځې کورس لري کله چې نو موړې ناروغي خپله دوره پوره کړي ناروغ شفایاب کیږي.

## انزار (Prognosis) :

په عمومي ډول سره common cold یو خفیف او خپله ښه کیدونکې (self-limiting ) حالت دی چې د یوې اونۍ په جریان کې ښه والې منځ ته راځي، په نیمایي کیسونو کې نوموړې ناروغي لس ورځوته هم اوږدیږي،د زکام

(c) ketabton.com: The Digital Library



شدید اختلاطات په ډېر زړو ناروغانو کې منځ ته راځي او په هغه ناروغانو کې اختلاطات ورکوي چې کم معافیته (immunosuppressed ) وي او امکان لري چې ثانوي باکتریایي انتان د sinusitis,pharyngitis او یا د غوږ د انتان په نتیجه مینځ ته راشي.

## د Common Cold ناروغان باید هغه وخت ډاکټر ته مراجعه وکړي:

کله چې

- د زکام اعراض د درې اونیو څخه زیات مقاومت پیدا کړي.
- کله چې د بدن د حرارت درجه پورته شي (102.2°F)
- ناروغ وینه لرونکې ټوخي پیدا کړي.
- د سینې درد رامنځ ته شي.
- تنفسي مشکلات رامنځ ته شي.
- تخرګ او غاړه کې د Lymph nodes پړسوب رامنځ ته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (2)
# حاده اوبلنه نس ناسته
# Acute Watery Diarrhea

د نورو ناروغیو په پرتله اسهال په کوچنیانو( د پنځوکالو څخه کم عمره ماشومان) کې زیات لیدل کیږي او د اطفالو متخصیصن او معالج ډاکټران ورسره په کلینیکونو، روغتونونو او نورو صحي مرکزونو کې ورسره مخاخ دي، د کوچنیانو لپاره هره ناروغي که هغه وړه وي او یا غټه که چېرې په خپل وخت سره تداوي نه شي ستونزمن تمامیږي او دمرګوني اختلاطاتو لامل ګرځي . نس ناسته په دوه ډوله ده چې یو یې د لنډ وخت لپاره نس ناسته (حاده نس ناسته) او بل یې ځنډنۍ (یا اوږد مهاله) نس ناسته بلل کیږي لنډ مهاله نس ناسته هغه ده چې لږ وخت د بیلګې په ډول یوه ورځ یا څو ورځې دوام کوي او لدې وروسته پخپله یا د درملني پوسیله په بشپړ ډول له منځه ځي مګر ځنډنۍ نس ناسته بیا هغه ده چې میاشتې، کلونه او په ځنې وختونو کې ان ټول عمر په ناروغ کې شتون لري او د ناروغ لپاره په ژوند کې یو عمده صحي ستونزه وي.

## تعریف (Definition) :

حاده ناسته: که چېرې د یو کوچني تغوط (frequency) شمېر په ورځ درې یا د درې څلوڅخه زیات او غایطه مواد اوبلن شکل ولري دغه حالت د نس ناستې څخه عبارت دی او یا که چېرې د غایطه موادو په Consistency او frequency کې تغیر راشي دې حالت ته اسهال ویل کیږي او که چېرې په ساده ډول سره تعریف کړو نو داسې به ووایو چې نس ناسته هغه حالت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کیږي چې یو شخص پکې د عادي حالت په خلاف ژر ژر اوبلنې ډکې متیازی کوي. یا داسې یې هم تعریف کولای شو چې حاده نس د غایطه موادو د قوام او دفعاتو له ناڅاپي بدلون څخه عبارت دی او که چېرته په غایطه موادو کې وینه موجود وي نو بیا دې حالت ته dysentery ویل کیږي. په زیاتره پیښو کې حاد وقفوي نس ناستې د اوو ورځو په موده کې له منځه ځي مګر په 5-15% واقیعاتو کې امکان لري چې حاده نس ناسته تر دوه(۲) اونیو پورې هم پاتې شي. او که چېرې د نس ناستې ناروغي د څوارلسو (۱۴) څخه زیاته پاتې شي مقاومه (persistent) نس ناسته بلل کیږي او که د اعراضو وخت د یوې میاشتې څخه زیات شي نو داسې حالت بیا د ځنډنۍ نس ناستې په نوم نومول کیږي، د حادې نس ناستې زیاتره پیښې په خپله ښه کېدونکې (self-limited) وي.

## وقوعات (Incidence):

د اسهال وقوعات د نړۍ په هرګوټ کې لیدل کیږي، مګر په هغه هیوادونو کې یې پیښې (Mortility,Morbidity) زیاتې لیدل کېږي چې د حفظ الصحې شرایط یې درست نه وي او یا یې اقتصادي کچه ټیټه وي.

د ګلوبل پنډاداری د اسهال په کلنۍ تخمیني اندازه کې ښودلې ده چې په کال ۳-۵ میلیونه کوچنیان د نس ناستې دواقیعاتو سره مخ کېږي او په دې کې بیا ۲ میلیونه کوچنیان د نس ناستې له لاسه خپل ژوند له لاسه ورکوي او وایي چې د پنځو کالو څخه په کم عمره ماشومانو کې نس ناسته د ټولو نورو مړینو په پرتله ۲۰ فیصده څخه زیات مړینه جوړوي.

د نس ناستې دوه مهم لاملونه د سوئغذی (malnutrition) او دیهایدریشن (dehydration) څخه عبارت دي، دیهایدریشن او سوئغذی د نس ناستې د رامنځ ته کیدو لپاره یو ناوړه سیکل جوړوي چې بیا په دې کې سوئغذی د نس ناستې خطر شدت زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ماشوم په کال کې د ۳-۴ ځلې د نس ناستې د پېښو سره مخ کيږي، چې پيښې يې زياتره د يو کال څخه په کم عمره ماشومانو کې ريکارډ شوې دي او د ۴۰-۵۰ فيصده په روغتونونو کې د بستر ناروغان جوړوي

د نس ناستې پېښې زياتره په معتدلو سيمو کې چې په اوړي کې باکتريائي انتاناتو له لامه او په ژمې کې دويروسي انتانانو له کبله منځته ته راځي او زياتره په هغه سيمو کې زيات منځ ته راځي چې هلته د حفظ الصحي شرايط برابر نه وي او هم ورسره د خلکو تعليمي کچه ټيټه وي، د نس ناستې پېښې په هغو کې ماشومانو کې ډېر کمې منځ ته راځي هغوی د مور په شېدو تغذيه کيږي ځکه چې د مور شېدې د نس ناستې د مخنيوي لپاره يو ښه غذا ده، اسهال د انفاسي په مرحله کې د childhood په نسب ډېر وخامت لري ، ځکه چې د انفاسي په مرحله کې د ماشوم مقاومت د انتان او مايعاتو او ايلکټرولايتونو د تشوشاتو په مقابل کې کم وي، نس ناستې د ماشومتوب په هره مرحله کې ليدل کېږي مګر په هغو کوچنيانو يې پېښې زياتې ليدل کېږي چې عمرونه يې د دوه کالو څخه کم وي.

**: Epidemiology**

اسهال په ماشومانو کې د مورتيليتي او د موربيډيتي يو مهم سبب دی.

د سرايت يا د انتقال مهم ميکانيزم يې د فيکواورال لاره ده چې د منتن غذا او اوبو څخه منځ ته راځي.

پيښې يې په هغه کوچنيانو کې زياتې دي چې د مور د شېدو په واسطه نه تغذيه کيږي، يا د غير صحي اوبو څخه استفاده کوي او يا هغه کوچنيان چې په سوئغذي باندې اخته وي.

## اسباب (Etiology) :

د نس ناستې په اسبابو کې ډېر زيات لاملونه شامل دي چې په هغې کې د ډېر زيات او معمول د کولمو انتانات دي ، خو په هر حال ځينې درمل، غذايي تسممات، سيستيمک انتانات،(د بولې لارې انتان ،د غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



التهاب) او جراحي حالتونه (Hisrchsprung diseases يا appendicitis) هم د اسهال واقیعات منځ ته راوړي. په ۷۰-۸۰ فیصده واقیعاتو کې د اسهال سبب پیژندل شوي دی چې په هغه کې Rota ویروس د شدید ډیهایډریشن او gastroenteritis یو ستر عامل جوړوي، په عمومي ډول سره یه وواېو چې د نس ناستې په اسبابو کې باکتریایي انتانات، ویروسي انتانات، پرازیتونه او فنګسونه شامل دي چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي.

## باکتریایي انتانات (Bacterial Infection):

Enterotoxigenic,enteropathogenic, : (25%)**Escherichia.coli**
Enteroinvasive andenteroaggregative
S. snnei,S. flexneri, S.boydii and S.dysenteriac : (5%) **Shigella**
Vabrio cholera serogroups O1 and O139(5-10%)
Chiefly S.typhi and S.paratyphi A,B or C : (10 %)**Salmonella**
**Compylobacter species**

## نور باکتریایي انتانات:

Bacillus cereus,Clostridium difficle
Clostridium perfringens,staphylococcus aureus,Vibrio
Plesiomonas shigelloides , parhemolytic,

## ویروسي انتانات (Viral Infections):

Rota Virus(40 %)
Norovirus spp : Human caliclviruses
Enteric adenovirus serotypes 40 and 41
Astroviruses,coronaviruses,cytomegalovirus : others

## پرازیتي انتانات (Parasitic Infection):

Giardia lambia
Crptosporidium paroum
Entamoeba histolytica
Cyclospora cayetanensis
Isospora belli

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Parenteral infection**

Otitis media,UTI,Pneumonia:

**: Dietary factors**

Over feeding,Starvation, Food allergy,Food Poisoning

**: Drugs**

Antibiotics, allopurinl,digoxin,colchicines,cytotoxic drug, magnesium-containing anti acid,meformin,non steroidal anti- inflammatory drugs,PPI,Selective serotonin reuptake inhabitors,statins,theophylline,thyroxine and high-dose vitamin C.

**د نس ناستي د خطر فکتورونه ( diarrheal Risk factors ):**

- د ناروغيو د خپريدو ضعيف مخنيوي.
- د پرسونل هايوجين نشت والي.
- د څښلو د خوندي اوبو نه موجوديت.
- د معافيت او د مور د شېدو کموالي.
- ځوان کوچنيان او هغه چې په سوئي تغذي باندې اخته وي حادې نس ناستي ته ډېر اړدي چې د نس ناستي ډېر شديد او اوږد سير لري چې د بيا بيا او د اوږدې نس ناستي د خطر فکتورونه د Helicobacter pylori انتان يا د PPI سره د تداوئ، selective IgA کموالي، HIV او نورو مزمنو حالتونو له امله د معدې د تيزابو کموالي او يا نه موجوديت دی.

**د ناروغ ارزيابي کول( Evaluation of the patient ):**

تاريخچه:

د نس ناستي ناروغانو موجوده شکايت د لوز موشن، استفراقات، او تبه وي.

Loose motion: د لوز موشن، وخت، دفعات، درجه، په غايطه موادو کې وينه او يا ميوکس او هم د غايطه موادو رنګ په اړه وپوښتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Vomiting** : د استفراقاتو د وخت، دفعات، د غذا سره ارتباط، اندازه، ماهیت، رنګ او په استفراقاتو کې د وینې د موجودیت په اړه پوښتنه وکړئ.

**Fever** : د تبې د وخت او د درجې په اړه پوښتنه وکړئ چې لوړه درجه تبه او یا ټیټه.

همدارنګه د نورو ناروغیو د اعراضو په اړه پوښتنه وکړئ لکه د ټوخې په اړه چې په تنفسي انتاناتو کې وي، جلدي رش چې په شری کې وي،

**Urine** : د ادرارو په اړه وپوښتئ چې په تیر شپږو ساعتونو کې یې ادارار کړي دي او که نه.

د ګېډې د درد او پړاخوالې په اړه پوښتنه وکړئ.

همدارنګه د ناروغ څخه د اختلاجاتو د تاریخچې په اړه پوښتنه وکړئ او معلومه کړئ چې ایا ناروغ مخکې هم د نس ناستې سره مخ شوې و او لپاره یې ورته کوم درمل کارولې و لکه انتي بیوتیک، د نس ناستې ضد درمل او یا **ORS**.

د تغذیې تاریخچه : پوښتنه وکړئ چې ناروغ د مور په شېدو تغذیه کیږي او یا نه، که تغذیه کیږي د وخت، اندازې او ډول په اړه پوښتنه وکړئ، او که د مور د شېدو په واسطه نه تغذیه کیږي او نورې شېدې ورکوي نو بیا معلومه کړئ چې د بوتل په واسطه شېدې ورکوې او یا په واسطه او په 24 ساعتونو کې یې څومره شېدې څښلې.

همدارنګه د ناروغ څخه د واکسین او د توبرکلوزس او د شری د ناروغ سره د اړیکې په اړه پوښتنه وکړئ او هم د ناروغ د اجتماعي ژوند په اړه پوښتنه وکړئ.

**: Examination**

ناروغ د عمومي کړو وړو له نظره خوبجن یا مخرش وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناروغ په عمومي معاینه کې باید نبض، حرارت، تنفسي ریټ، د وینې فشار او وزن باید معاینه شي.

مخاطي غشا ، وکتل شي چې نارمله، وچه او یا بل کوم شکل لري.

Skin turgor: د نس ناستې په ناروغانو کې جلدي ترګر معاینه کیږي چې نارمل، ضعیف، خپل ځای ته په قلاره ځي او یا ډیر په قلاره خپل ځای ته ځي،

سترګې: د ناروغ سترګې باید معاینه شي چې ایا ناروغ ننوتې سترګې دي او یا کوم خواته ځوړندې دی او یا نارملې دي.

قدامي فانتینال هم باید ارزیابي شي چې ایا خلاص دی، که بند او یا زور کړی شوې او یا څه برامدګې لري.

ګیډه : د ناروغ ګیډې په معاینه کې باید د ګیډه اوازونه ، پراخوالې او نور افات په کې ولیدل شي.

د نورو اړونده ناروغیو لپاره باید مرکزي عصبي سیستم او تنفسي سیستم معاینه شي.

پتوفزیولوژي:

د نس ناستې په ناروغانو کې ډیهایډریشن د مایعاتو او د الکترولایتونو د ضیاع په نتیجه منځ ته راځي چې لاندې تظاهرات پکې لیدل کیږي.

د مایعاتو ضیاع (lose fo water):

د اسهال ناروغانو د مایعانو د ضیاع په نتیجه کې جلدي ترګر ضعیف کیږي، ورک یا ضعیف نبض لري، د ناروغانو د زړه ضربان زیات وي، سترګې يې ننوتي وي، فانتینل يې ښکته خواته ننوتې وي، ناروغ ډډ اواز لري، د اطرافو شینوالې هم پکې موجود وي، جلد يې یخ وي او ادرار يې وي موجود او یا کمې وي.

د مغذي موادو د ضیاع په نتیجه کې په ناروغ کې هایپوګلایسیمیا ، اختلاجات ، د وزن باختل او یا کوما منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بایوکاربونیټ د ضیاع په نتیجه کې استفراقات، ژور تنفس، د زړه دعضلي د تقلص کموالي او ژور تنفس منځ ته راځي.
د پوتاشیم د ضیاع په تنیجه کې په ناروغ کې د ګېډې پړاخي( Abdominal distention ) پارالایتیک الیوس او مقاوم شاک منځ ته راځي.

## د ډیهایدریشن طبقه بندي:

د کلینک له نظره دیهایدریشن په درې ډوله دی .
خفیف : چې د وزن ضیاع یې د ۵٪ څخه کمه وي.
متوسط: چې د وزن صیاع یې د ۵٪ _ ۱۰٪ په مینځ کې وي.
شدید : چې د وزن ضیاع یې د ۱۰٪ څخه زیاته وي.
بایو کیمیکل طبقه بندي:
ایسوټونیک: د سودیم اندازه د ۱۳۰–۱۵۰mmol/L په مابین کې وي.
هایپوټونیک: د سودیم اندازه پکې د ۱۵۰mmol/L څخه کمه وي.
هایپرټونیک: د سودیم اندازه پکې د ۱۵۰mmol/L څخه زیاته وي.

## کلینیکي تظاهرات:

پېښې په نا څاپي ډول د اسهال او استفراقاتو سره شروع کېږي.
دنس ناستې په ناروغانو کې دیهایدریشن په عاجل ډول په غایطه موادو او استفراقاتو کې د مایعاتو او د الکترولایتونو د ضیاع په نتیجه کې منځ ته راځي او د دیهایدریشن دمختلف پړاوونو اعراض او علایم په لاندې ډول دي.
خفیف ډیهایدریش : ناروغ پکې ناارامه او مخرش وي، تنده پکې ډېره ښکاره وي او کوچنې په مشتقانه ډول شېدې څښې مګر زیاتره وخت یې استفراقوي او قدامي فانتینل پکې په کم ډول ښکته وي.
متوسط ډیهایدریش : د نارو مخرشیت پکې ډېر وسیع وي، سترګې او قدامي فانتینل پکې ننوتي وي او جلد چې یې کله کش کړای شي کونځوالي یې غیرنارمل وي، نهایات یخ احساسیږي او امکان لري شین

(c) ketabton.com: The Digital Library



والې هم ولري او شاید میتابولیک اسیدوزس هم موجود وي چې پکې چټک او ژور تنفس لري او تنده پکې ډیره وسیع وي.

شدید ډیهایدریشن : د ناروغ حالت پکې د اولیګیمیا او د مخیطي دوراني عدم کفایې له امله ډېر خطرناک وي، جلد پکې یخ او شین بخن وي، نهایات پکې ډېر ژور شین والې یعنې سیانوټیک وي او د کوچنې د اوبو او یا د تی رودل پکې له منځه تللي وي، د سترګې کورنیا طبقه پکې ډېره ځلانده وي او د سترګې ګاتې پکې اکثره وخت پورته خواته تاو شوې وي، فانټینل پکې ډېر ژور ننوتې او د ادرارو خروج پکې کم وي.

## پلټنې (Investigation):

- Blood count.
- Stool examination
  Giardia cysts and entamoeba
  Leucocytes and RBCs
  Culture and sensitivity
  Elisa test for Rota virus
- Serum electrolytes($Na^+$ $K^+$) and biocarbonate
- Urine examination and culture (for parentral diarrhea)
- Blood culture fo Shigellosis
- Chest X-ray for Pneumonia

## د نس ناستې اختلاطات:

- ډیهایدریشن:
- شاک.
- میتابولیک اسیدوزس.( د بایوکاربونیت د ضیاع له امله )
- پارالایتیک الیوس.( هایپوکلیمیا له امله )
- اختلاج او کوما ( د هایپرنیټریمیا )
- سوئ تغذي( د اوږد مهال نس ناستې له امله )
- مقاوم اسهال( د ډایسکرایډیز فقدان له امله )
- د نورو انتاناتو مداخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ترش.
- مړینه.

## اداره یا Management :

مخکې له دې څخه د نس ناستې ناروغ ته درملنه شروع شي ، باید
لومړی د یهایدریشن درجه او ډول وټاکل شي
لومړی باید له مور څخه پوښتنه وشي .

- ایا ناروغ نس ناسته لري؟

که چیرته ځواب هو و. پوښتنه وکړی.
د څومره وخت راهیسې ؟

- ایا په غایطه موادو کې وینه شته ؟

وګوری او حس کړئ.
د ناروغ عمومي حالت ته وګورئ چې ایا ناروغ محرش دی او که بیهوشه
.ایا ناروغ ناارامه دی او که خوبجن.

- د ناروغ سترګو ته وګورئ چې ننوتې دي او که نه ؟.
- ناروغ ته اوبو څښلو توصیه وکړئ.

چې ایا ناروغ د اوبو څښلو قابلیت لری او که نه اویا ډیر په قراره اوبه
څښي ؟او یایې په ډیرمینه څښي.
د ګېډې د پوستکې پنچ کړئ چې خپل حالت په قراره او که په تیزي سره
(ددوه سیکیندو څخه زیات وخت ).

اوس نس ناسته طبقه بندي کړئ او تداوئ لپاره يې پلان ګذاري وکړئ.

**Treatment Plan A (for no dehydration)**
**Treatment Plan B (for some dehydration)**
**Treatment Plan C (for sever dehydration)**

## (1) د تداوئ پلان A د No دیهایدریشن لپاره :

دتداوئ په دغه پلان کې ناروغ په کور کې تداوي کېږي او د مور سره په دري
خبرو سلامشوره کېږي او توصیه ورته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



a) چې په بشپړ ډول سره ماشوم ته شېدې ورکړي
موربايد ماشوم د ورځې ۴ ځخه تر ۷ ځلو پورې خپلې شېدې او يا د غوا شېدې ورکړي او هم ورته تازه جوس يا کيله ورکړېد.

b) او هم ورته اضافي مايعات ورکړي
مور بايد ماشوم ته د سېنې شېدو سره په پاکو جوش شوو اوبو کې ORS ورکړي هغه کوچنيان چې عمر يې 2 کالو ځخه ښکته وی د 50 ځخه تر ORS 100ml وروسته د هر تغوط ځخه ورکول کېږي او هغه کوچنيان چې عمر يې د 2 کالو ځخه پورته وي 100 ځخه تر ORS 200ml وروسته د هر تغوط ځخه ورکول کېږي مور بايد د دغه مايعاتو سره خپل کوچني ته شوروا يا سوپ ورکړي.

c) او بيا کله بيرته مراجعه وکړي.
مور بايد په دې وپوهول شي چې د کوچني د وضعيت د ارزيابئ لپاره 5 ورځې ورسته بيرته راشي او هغه وخت عاجل بيرته راشي که چيرته په ماشوم کې لاندې حالتونه وليدل شي.

- دځښلو او د تی رودلو توانايي ونه لري.
- د موجوده حالت ځخه زيات ناروغ شي.
- ناروغ تبه پيدا کړي.
- په غايطه موادو کې يې وينه پيدا شي.
- او ضعيف ځښاک ولري.

## 2) د تداوئ پلان B د some ډيهايډريشن لپاره:

د ډيهايډريشن دا ډول هم په ORS سره تداوي کيږي او بايد چې ناروغ ته په لومړئ 4 ساعتونو په دوارن کې ORS ورکړل شي، د ناروغ عمر معلوم کړی او ORS 75ml/kg ورکړئ ، که چيرته ناروغ د ORS دځښلو سره سره بيا هم نور ORS غوښتل وريې کړئ. هغه ماشوم چې عمر يې د 6 مياشتو ځخه کم وي د 100-200ml په اندازه ورته پاکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه ورکړئ ، همدارنګه مور ته بې وښايئ چې په کوم ډول ORS ورکړي.

- په قاشوقه يا په پياله باندې وار په وار کوچنې د ګوټ په شکل د ORS محلول ورکړی.
- که چيرته ماشوم کانګې وکړي د 10 دقيقو په اندازه ورته صبر وکړئ او بيا ورته د ORS محلول ورکړئ خو ډير په قراره.
- ناروغ ته بايد مور خپلې شېدې ورکړي تر هغه چې مور يې غواړي.

وروسته د 4 ساعتونو څخه :

د ناورغ ارزيابي وکړئ او ديهايدريشن بې وګورئ

او هم مور ته وښايي چې په کوم ډول ORS محلول په کور کې جوړ کړي. او هم مورته د کورني تداوئ 3 رولز وښايئ لکه په لاندې ډول

1. اضافي مايعات ورکړي.
2. شېدې ورته په جاري ډول ورکړي.
3. او بيا کله بيرته کلينيک يا روغتون او يا شخصي کتنځي ته راشي

## د تداوئ پلان C د شديد ديهايدريشن لپاره :

د ديهايدريشن په دې ډول کې ناروغ ته وريدي مايعات ورکول کيږي هغه ماشومان چې عمر يې د 12 مياشتو څخه کم وي په لومړي اول ساعت کې ورته 30ml/kg په هرکيلوګرام وزن د بدن ، بيا ورته 70ml/kg په هرکيلو ګرام وزن د باندې په 5ساعتونو کې او هغه ماشومان چې عمرونه يې 12 مياشو څخه تر 5کالو پورې وي په لومړئ 30 دقيقو کې ناروغ ته په هر کيلوګرام وزن د باندې 30ml/kg ورکړئ بيا 2 نيم ساعتونو کې 70ml/kg په هر کيلو ګرام وزن د بدن باندې.

دوريدي مايعاتو د تطبيق په وخت کې بايد د ناروغ بشپړ ارزيابي وشي او په هرساعت کې د ناروغ وضيعت چيک کړاي شي ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه که چیرته د نس ناستې سببي عامل میکروب و نو په دغه صورت کې مناسب انتي بیوتیک ورکړي او د ناروغ فیوازانو ته توصیه وکړي چې په کور د ORS محلول تطبیق هیر نه کړي. د وریدي مایعاتو د تطبیق په وخت د ناروغ ریډیال نبض چیک کړئ که چیرته ډیر کمزوری و نو نور مایعات ورکړې.

کله چې د ناروغ وضیعت ښه شي نو خپل د تدوائ پلان بدل

که چیرته ماشوم په شاک کې و نو په دغه صورت کې 20ml/kg مایعات په 10-15 دقیقو کې سیروم د کیمنډلو په ډول ورکړي او بیا ناروغ دوباره ارزیابي کړئ که چیرته radial نبض لاهم ډیر کمزوری وی اویا د جس کیدو وړ نه وي نو په صورت کې مایعات په پورتني ډول بیا ورکړئ او کله چې ناروغ د شاک څخه ووت نو بیا ناروغ ته د خپل وزن مطابق مایعات لکه چې پورته ذکر شوی ورکړئ

که چیرته ماشوم د خولې د لارې د مایعاتو په څښلو قادر شو نو د maintenance تیراپئ لپاره 5% dextrose 1/5 saline په هر کیلو وزن د بدن باندې100ml/k g/day باندې ورکړي که چیرته ناروغ د خولې د لارې په مایعاتو څښلو قادر شو نو بیا maintenance تیراپي به ORS محلول سره شروع کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (3)
# سینه بغل / نمونیا
# (Pneumonia)

سینه بغل (نمونیا ) د ماشومانو یوه ډېره معمول ناروغي ده ، چې د ماشومتوب په هر عمر کې منځ ته راځي او زیاتره په هغو کوچنیانو کې زیاته لیدل کېږي چې عمرونه یې د دوه کالو څخه کم وي، ځکه نوموړي کوچنیان د نورو لویو کوچنیانو په نسبت د انتان سره ډېر مخ دي او هم یې معافیتي سیستم بشپړ شوې نه وي، نو باید ټول هغه ډاکټرصاحبات چې په دولتي کلینیکونو، روغتونونو، تشخیصیه کلینیکونو او شخصي کتنځایونو کې د ناروغانو په معاینه بوخت دي د نمونیا د تشخیص، تداوي، اختلاطاتو او د نورو اساساتو په اړه پوره تجربه او بشپړ معلومات ولري او د ناروغ معاینه خپله وجداني او ایماني دنده وبولي او د ناروغ سره د ښه برخورد په نتیجه کې د ناروغ لپاره د تداوي یو ه داسې پلان جوړ کړي چې په بشپړ ډول سره ناروغ شفایابات او د اختلاطاتو او د مړینې څخه یې مخنیوي وشي.

## د نمونیا تعریف او وقوعات:

## Definition and Incidence of Pneumonia

نمونیاد سږو د پرانشیم(Paranchym ) التهاب او د سږو داسناحو التهابي کونسولیډیشن ته ویل کېږي،د سږو پرانشیم (paranchym ) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکتنې تنفسي لارې برخه ده چې مشتمل دی په تنفسي برانکیولونو، الویولرډکټ، الویولرسک او په الویولای(alveoli) باندې.
یا نمونیا د سږویوالتهابي حالت دی چې په ابتدایي ډول سره مایکروسکوپیک هوایي کڅوړې چې د اسناحو (alveoli )په نامه سره یادیږي مصابوي.
په اسبابوکې یې معمولاً ویروسونه، باکتریاګانې، فنګسونه ، په لږه اندازه مایکروارګانیزمونه، درمل او نورې ناروغۍ لکه اټوامیون ناروغي پکې شاملې دي.

## وقوعات Incidence:

په نړۍ کې هر کال ۴۵۰ میلیونه خلک په نمونیا باندې اخته کیږي چې د ټول نفوس ۷ فیصده جوړوي او ۴ میلیونه مړینه ترې منځ ته راځي. په ۱۹ پیړۍ کې William Osler نمونیا د نارینه و د مړینې د کیپټان په نوم نومولې وه یعنې مانا دا چې په هغه وخت کې ترې مړینه زیاته منځ ته راتله چې بیا په شلمه پیړۍ کې دانتي بیوتیک په استعمال او واکسین په تطبیق سره د مړینې په دغه کچه کې کموالې راغي سره له دې چې په انکشاف یافته هیوادونو کې په مابین د ډېر و زړو او په ډېر ځوانانو کې او په مزمنو ناروغیو کې نمونیا د مړینې یو سبب پاتې شو.
نمونیا په کوچنیانو کې یو عامه صحي ستونزه ده چې د روغتونونو د ۲۰٪ - ۱۰ د بستر ناروغان جوړوي.
د نمونیا ډول او شدت د عمر له لحاظه په مختلف ډول سره لیدل کېږي د بیلګې په ډول مایکولازما نمونیا دښوونځي ځخه مخکې مرحله کې عمومیت لري خو د بله طرفه ویروسي نمونیا په شېدو خوړونکو کوچنیانو کې ډېره لیدل کېږي، نمونیا په هغو کوچنیانو کې چې په خوارځواکۍ باندې اخته وي وقوعات یې زیات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نمونیا طبقه بندي :

د نمونیا په دوه ډوله طبقه بندي کېږي.

1) اناتومیکه طبقه بندي.

- برانکونمونیا.

په دې ډول نمونیا کې د برانکیولونو ګرد چاپیره د سږو یو شیندل شوې التهاب موجود وي چې د سږو کانسولیډیشن رامنځ ته کوي.

- لوبر نمونیا.

په دې ډول نمونیا کې د سږو یو لوب یا ډېر لوبونه مصاب وي.

- نمونایتیس.

په دې کې د سږو patchy التهاب موجود وي خو شاید چې کانسولیډیشن ور سره وي او یا نه.

- بین الخلالي نمونیا.

دا د بین الخلالي انساجو د التهاب څخه منځ ته راځي. بین الخلالي انساج د اسناخو د دیوال نه ، الویولر سک، الویولر ډکت او د برانکیولونو څخه جوړ دي.

2) اتیولوجیکه طبقه بندي.

د نمونیا په دا ډول سببي طبقه بندی کې د نمونیا لاندې قسمونه شامل دي.

- باکتریایي نمونیا.
- ویروسي نمونیا.
- اسپایریشن نمونیا.
- هایپوستیتیک نمونیا.
- فنګسي نمونیا.
- پروتوزوایي نمونیا.
- لوفلرز نمونیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- التهابي نمونیا.
- هغه ډول نمونیا چې د زهرجن موادو له امله منځ ته راغلي وي.

## د نمونیا د خطر فکتورونه:

- د زیږون کم وزن.
- سوءِ تغذي.
- د ویټامین A فقدان.
- د مور د شېدو کموالی.
- د مور سګرټ څښنه.
- د کورنۍ د غړو د شمېر زیاتوالی.
- د برانشیټ کورنۍ تاریخچه.
- د هوا کثیف کېدل.
- د چاپېریال ککړتیا .

## د نمونیا کلینیکي تظاهرات :

- لوړه درجه تبه
- چټک تنفس.
- ټوخی.
- سالنډي (SOB ) یا ستونزمن تنفس.
- د سینې درد .
- په کوچنیو شېدو خوړونکو ماشومانو کې سیانوزس، لیترجي،
- په شدید کیسونو کې د سینې ښکته تلل (انډرو ینګ ) .

د نمونیا د پورته اعراضو او علایمو سره د نمونیا کلینیکي منظره د نمونیا په مختلف ډولونو کې فرق کوي یعنې کلینیکي منظره یې په ویروسي نمونیا ، باکتریایي نمونیا او فنګسي نمونیا کې سره توپیرلري ، د بیلګې په ډول هغه نمونیا چې د Legionella په واسطه منځ ته راغلي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



m,,, ik9jkkj شاید چې ناروغ په کې د ګېډې درد، اسهالات او کونفیوژن ولري همدارنګه په Streptoccoccus Pneumoniae کې ناروغ زنګ وهلي رنګین (Currant jelly) بلغم لري. په مایکوپلازما نمونیا کې د غړي په لمفاوي عقداتو کې پړسوب او د مفاصلو درد یا د منځني غوږ انتان د لیدو وړ وي، په ویروسي نمونیا کې د ناروغ په سینه کې ویزینګ موجود وي.

پلټنې یا Investigations

1. د وینې د سپین کورویاتو اندازه:

Leukocytosis 15000-4000/mm$^3$ (په دغه اندازه زیاتوالی زیاتره په نوموکوکل نمونیا کې لیدل کیږي).

د وینې د سپین حجراتو اندازه د 5000/mm$^3$ څخه کم وي چې ښه انزار نه لري.

2. د سینې اکسرې (Chest X-ray) :

د نمونیا په ناروغانو کې په اکسرې کې لاندې تغیرات لیدل کیږي.

پراخه او منتشر کانسولیدیشن.

امکان لری چې پلیورل افیوژن موجود وی او یا نه.

په نوموکوکل نمونیا کې په اکسرې کې لوبرنمونیا د زیږ یا د ګراس کانسولیدیشن سره لیدل کیږي.

په ستریپتوکوکل نمونیا کې اکثراً منتشر برانکونمونیا د غټ پلیورل ایفیوژن لیدل کیږي.

په ستیپایلوکوکل نمونیا کې شاید چې په لومړئ قدم کې په اکسرې کې غیرخاص برانکونمونیا ولیدل شی چې بیا په چټک ډول سره په لوبرنمونیا ته اوړي.

په H. influenza نمونیا کې شاید چې په اکسرې کې لوبرنمونیا سره د کوچنیو هوایي لارو د پراخ تخریب سره و لید ل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د Streptococcal نمونیا په صورت باید چې ASO(anti-streptolysin O) ټایټر اجراشي.

د توبرکولین ټیسټ باید هم اجراشي.

## د نمونیا یا د سینه بغل اختلاطات:

- د منځني غوږ التهاب ، سینوزایتس او Bronchiectasis.
- پریکاردایتس، اندوکاردایتس، شاک. د زړه احتقاني عدم کفایه.
- توکسیک او میتابولیک اسیدوزس، هیمولایتیک انیمی او اختلاجات.

## د نمونیا تداوی:

د نمونیا د تداوئ لپاره اړینه دا ده چې یو ډاکټر د نمونیا په ټولو ډولونو او اسبابو باندې وپوهیږي او یو ډول یې له بل ډول څخه جلا کړي ، ځکه چې د نمونیا تداوي د سبب سره ارتباط لری او باید چې سببي تداوی یې اجرا شی، خو بیا هم به یې تداوي په عمومي ډول سره ذکر کړو

دنمونیا د تداوئ تدابیر په دوه ډوله دي

1. کومکي تدابیر.
2. خاص تدابیر.

کومکی تدابیر:

a) ناروغ ته ارام ورکول او یا یې بستر کول.

د نمونیا ټول شدید او وخیم ناروغان باید په روغتون کې بستر شي او عادي واقعات یې د امکان په صورت کې په شخصي کتنځایونو او صحي کلینیکونو کې تداوي شي او هغه ناروغان چې کورنۍ یې د نمونیا له امله د مړینې تاریخچه ولری باید چې په روغتون کې بستر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نمونیا د ناروغانو د بسترکېدو ځینې خاص استطبابات په لاندې ډول دي

- سیانوزس یا شین والی.
- د شعور مختل کېدل.
- ډیهایډریشن.
- شدید تنفسي ډیسټریس.
- ناروغ به کورني تداوي سره شفایاب شوی نه وي.
- د سږو د یو لوب څخه زیات لوبونه دخیل وي.
- ناروغ استفراقات ولری او هم کمزوری ځنباک ولری.
- د کوچنې عمر د ۲ میاشتو څخه کم وی.
- د نموینا د اختلاطاتو موجودیت.

b) تغذیه: د نمونیا ناروغان باید په درست ډول سره تغذیه شي څکه چې ښه انرژی د ښې تغذیې څخه لاس ته راځی او په ټولو انتاني واقعاتو کې ناروغان ښه تغذیه شي کیدای شی چې ناروغان ژر شفایاب شي.

c) د نمونیا په شدیدو او وخیمو واقعاتوکې(لکه په تنفسي بې کفایتي،سیانوزس، د تنفسي ریټ زیاتوالې ، د دوه میاشتوڅخه کم عمره ماشوم 70/min< ، ددوه میاشتو څخه تر 12 میاشتو څخه کم عمره ماشوم 60/min< او د یو کال څخه پورته عمر ماشوم کې 50/min< په اندازه تنفسي ریټ وي ) د سیانوزس ، نا آرامئ او تخریشیت په صورت کې باید ناروغ ته 2-4 L/min په اندازه اکسیجن تطبیق شي.

d) ناروغ ته د تبې د دضد درمل د حرارت د ښکته کولو په خاطر ورکړئ که چیرته د ناروغ د تودوخي حرارت د $103^0$F څخه پورته وی نو په دغه صورت کې ناروغ لوڅ کړئ او یوه یخه ټوټه ورته په څرباندې واچوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



e) د Tachypnea له امله د insensible water loss په خاطر ناروغ ته کافي مایعات ورکړئ.

f) د رغیدو په جریان کې ناروغ ته فزیوتراپي او تنفسي تمرین ورکړئ.

g) هغه ډول توخي څخه چې تقشع ورسره موجوده وي باید جلوګیري ونشي مګراوچ توخي چې په ویروسي نمونیا کې عمومیت لري باید د کودین ( په ۲۴ ساعتونو کې د بدن په هر کیلوګرام وزن 2 mg ) او یا د methadin (0.2mg/kg په ۲۴ ساعتونو کې ) په واسطه ارامیږي

،دنمونیا د تداوی لپاره خاص تدابیر:

په نمونیا یا سینه بغل کې د انتي بیوتیکو استعمال:

که څه هم د نمونیا د مړینې شمیر زیات دی مګربیا هم باید یادونه وشی چې د سږو یو زیات شمیر انتانات په خپله ښه کیږي ،په نمونیا کې انتي بیوتیک د 10-7 ورځو لپاره د سببي عامل له مخې ورکول کیږي او په Staphylococcal pneumonia کې د 3-2 اونیو پورې انتي بیوتیک ورکول کیږي

۱) Pneumococcus:

First generation cephalosporins Benzyl penicillin

۲) Streptococcus:

Erythromycin ، Benzyl penicillin

۳) Staphylococcus.

First generation cephalosporins,Cloxacillin.

۴) H-influenzae : Second & third generation cephalosporins,Chloromphencol

۵) Mycoplasma : Erythromycin,Clarithromycin.

۶) E-coli : Aminoglycosides(gentamyci,Amikacin)

۷) Tuberculosis : د توبرکلوز ضد درمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه میاشتو څخه ښکته عمر ماشومانو کې د نمونیا تداوي:

: First line

Ampicillin (100-200mg/kg/day+gentamycin 5-7.5mg/kg/day

: Second line

که چیرته ماشوم وخیم حالت ولري او یا په ۴۸ ساعتونو په موده کې تداوي دپورته ذکرشوو انتي بیوتیکو سره ځواب ورنکړي نو په دې حالت کې generation cephalosporin (Ceftriaxone 50-75mg/kg/day Cefotaxime یا Ampicillin (100-200mg/kg/day+ 3rd 100mg/kg/day په اندازه د تیستې دوز په اجراکولو سره د ورید له په قراره سره تطبیقیږي.

د ۲ میاشتو څخه تر ۵ کالو عمر ماشومانو تداوي:

Ampicillin : First line په پورتني دوز سره.

. Cefotaxime یا Ceftriaxone : Second line

د ۵ کالو څخه پورته عمر ماشومان:


Macrolids (Erythrocin 50mg/kg/day, : First line Clarithromycin 15mg/kg/day, Azithromycin 10mg/kg 1st day than 5mg/kg/day.

Ceftriaxone or cefotaxime : Second line

نوټ:. دوهم او دریم لاین انتي بیوتیکونه باید د مشرانو ډاکترصاحبانو او یا د اطفالو متخصیصونو په مشورې سره شروع شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library





(a) Female mosquito

Copyright © 2004 Pearson Education, Inc., publishing as Benjamin Cummings



(b) *Anopheles*

# (4)
# ملاریا
# (Malaria)

ملاریا د بشر په تاریخ کی یوه خطرناکه پروتوزوائي ناروغي ده چې د فلازموديم په واسطه رامنځته کېږي او د ښځينه انافيل مياشې په واسطه له يو شخص څخه بل شخص ته انتقالېږي.

د ملاريا ناروغۍ نوم له خرابې هوا څخه اخيستل شوي دی چې دا ړيکو شتون ته اشاره کوه چې د ناروغۍ او دهوا ترمنځ موجوده وی د اټکلونو په اساس لا اوس هم هر کال دا ناروغی په کال کی تر اتولکو زيات د پنځوکلنو څخه کم عمره ماشومان وژنی او کابو د دری ميليارد وګړو ژوند ګواښوی ، ملاريا په انسانانو کې د هغو غوره پرازيتي ناروغيو له ډلې څخه شميرل کېږي چې هر کال يو سلو دری بيلا بيلو هېوادونو کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څخه تر دري بیلیونو خلک پرې اخته دي او ۴۰ فیصده د نړۍ خلک د ملاریا د خطرسره مواجه دي

ملاریا د نړۍ په تودو سیمو (Tropical region) او په نیمه تودو سیمو کې د morbidity (رنځ) یو حاد یا مزمن انتاني سبب دی، دغه ناروغي د پلازموديم پرازیت د څلورو ډولونو په واسطه منځ ته راځي اود طحال په غټوالي، کم خوني او د بیا پیښیدونکې لوړې درجې تبې سره مشخص کیږي.

د ملاریا پرازیت ډولونه:

3) Plasmodium falciparum
4) Plasmodium Vivax
5) Plasmodium Malaria
6) Plasmodium Ovale

د ملاریا د پرازیت د تفریح دوره :

پلازموديم فلسیپارم (۹-۱۴ ورځې)
پلازموديم وای واکس (۱۲- ۱۷ ورځې)
پلازموديم اووال (۱۲-۱۸ ورځې)
پلازموديم ملاریا (۱۸ –۴۰)

انتقال او اپیدیمولوژي:

د ملاریا انتقال په عمده ډول سره داب او هوا تراغیزی لاندی دی
ملاریا ناروغی د مونث انافیل ماشی د چیچلو په واسطه انتقال او انتشار کوی او کله کله د وینی تبدیلیدو د پلاسنتا له لاری او د ملوثو ستنو په واسطه هم انتقالیدای شی.
ولاړې اوبه او گرم اقلیم د ملاریا د پرازیت د خپریدو لپاره یو ډېر ښه محیط دی
د نړۍ څلوېښت سلنه خلک د ملاریا د خطر لاندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاریا په جنوبی اسیا او همدارنګه په هندوستان کی مورتیلیتی او د موربیډیتی یو مهم سبب دی، چې هر کال یې تقریباً ۲ میلیون پیښې ریپورټ کیږی چې په دې کې تقریباً هر کال ۱۰۰۰ مړینې منځ ته راځی.

## د ملاریا د واقعاتو تعریف:

1. غیر اختلاطي مشکوکه ملاریا:

د ملاریا په دغه ډول کې ناروغ تبه لري ( حرارت په تخرګ کې 37.5 او یا د ده څخه لوړه وی )

- همدارنګه ناروغ ټوخی لري چې تنفس یې هم ورسره سریع وي.
- جلدي رش.
- جاري پوزه (Runny Nose ).
- د تانسلونو التهاب.
- د غوږ افرازات.

د خطر علایم:

- د شېدې څښلو عدم توانایي
- د بل د مرستې څخه پرته کیناستل.
- کوما.
- د غاړی شخوالی
- وینه لرونکي اسهالات.

غیراختلاطي تاید شوي فالسیپارم ملاریا:

تبه لرونکي ناروغ (چې د تخرګ لاندې د تودوخي درجه یې ۳۷.۵ درجې او یا تر دې لوړ وي) او یا په تیرو ۲۴ ساعتونو کې د تبې تاریخچه په اوسنی ناروغی کې ولري او د مایکروسکوپ یا چټک تشخیصه ټیسټ په واسطه یې پلازمودیم فالسیپارم تائید شي او د شدید ملاریا اعراض او علایم ونلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملاريا پتوفزيولوجي:

- د ملاريا اعراض هغه وخت ښکاره کيږي چې کله د وينې سره کرويات ريچر وکړي.
- کله چې ايريترو سايټ ريچر وکړي او ميروزوييټ دوران ته ولويږي په دغه وخت کې تبه د ملاريا فوق العاده اعرض وی چې نومړې تبه د tumor necrosis factor او يا د نورو سايټوکين له امله وی ، همدارنګه د تبی په څواب کې محيطي وازوډايليشن منځ ته راځي او د وازواکټيب موادو له امله وي چې د ملاريا د بارازيت په واسطه جوړيږي.
- هايپوګلايسيميا په ملاريا کې د ګلايکوجين ذخيرو د کمبوت په اساس منځ ته راځي.
- همدارنګه د وينو د سروکوروياتو د پارچه کېدو له امله کم خوني منځ ته راځي.
- امکان لري چې په کتلوي ډول د هيمولايزس له امله هايپرکاليميا ، هايپربيليروبينيميا ، هيموګلوبينيميا او هيموګلوبين يوريا تظاهر وکړي.

## کلينيکي تظاهرات :

### غيراختلاطي ملاريا :

- تبه يا د محيطي پرازيتميا موجوديت.
- لړزه.
- خوله.
- عضلي دردونه.
- مفاصلو دردونه.
- د ګيډې درد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نس ناسته.
- د زړه بدوالی.
- کانګې.
- کم حوصله ګي.
- بې اشتهایي.

## شدیده ملاریا:

- د حواص احتلال.
- کوما (Glasgow Coma Scale <10)
- اختلاجات (په ۲۴ ساعتونو کې د دوه حملو څخه زیات).
- ژور تنفس (Acedotic breathing).
- د فشار ټیټوالی (په کاهلانو کې سیستولیک فشار 70mmHg څخه کم او کوچنیانو کې 50mmHg څخه کم
- ژیړی سره د حیاتي ارګانونو د عدم کفایي د شواهدو سره.
- په ادرارو کې د هیموګلوبین موجودیت (Haemoglobinuria)
- غیرنارمل خون ریزی
- ریوي اذیما.

## په کاهلانو کې د ملاریا کلینیکي منظره:

د ملاریا ناروغي پیل په بې اشتهایي، سردردي، او تبې سره شروع کېږي. او حملات یې په دریو کلینیکي مرحلو ویشل کیږي.

1. Cold Stage: په دې مرحله کې ناروغ د یخوالي احساس کوي او ټول وجود یې رپیږیږي او هم غاښونه کرپوي، بې ځایه خبرې کوي او ځان به کمپل کې تاووي دا مرحله د ۳۰ دقیقو څخه تر یوه ساعته پورې دوام کوي په دې مرحله کې د تودوخي درجه تر 37 سانتی ګرید پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. **Hot Stage** : په دې مرحله کې لړزه له منځه ځي او ناروغ د ګرمۍ احساس کوي، او کمپل له ځانه لري کوي.
3. **Sweating Stage** : په دې مرحله کې په ناروغ زیاتی خولې راځي د تودوخي درجه په تیزۍ سره لوییږي او ناروغ د ارام والي احساس کوی.

## Plasmodium Vivax and Ovale Infection

د ناروغۍ حمله ۴۸ ساعته وروسته تکراریږي، توري او کبد په تدریجي ډول سره لوییږي او که په وخت سره تداوي نه شي کیدای شي حساس وګرځي.

## Plasmodium Malariae Infection

د ملاریا په دې ډول ناروغۍ کې اعراض په خفیفه ډول رامنځ ته کیږي او د ناروغۍ په هرو دریو ورځو کې تکراریږي او هځه کوی چې په ځنډنۍ ډول سیر وکړی.

## Plasmodium Falciparum Infection

دا د ملاریا یو اختلاط او خطرناک ډول دی چې پیل یې په ناڅاپي ډول سره کیږي، د ناارامۍ، سردردي، خوا ګرځۍ، تبه او نس ناستی سره پیل کیږي.

د تبې منظره یې وصفي نه وي یعنې یخه ګرمه او د خولې کولو مرحله په کې نه لیدل کیږي.

**Organ Damage** : د منتو RBC په سطح کوبه ډوله تبارزات (**Knob-like surface projection**) رامنځ ته کیږي چې د وینې د اوعیو سره د دې RBC نښلیدل اسانوی چې په پایله کې **Vascular occlusion** رامنځ ته کوی چې دا بیا د پښتورګو، کبد، دماغو **Organ damage** رامنځ ته کړي همدارنګه **Splemomegaly** امکان لري چې په وروستۍ مرحله رامنځ ته شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تشخیص:

د ملاریا د تشخیص لپاره کلینیکي تاریخچه او معاینات ډېر مهم دي. د ملاریا تشخیص په Giemsa-stained thick or thin blood film کې د ملاریا پرازیت په پیژندلو سره کېږي ، څرنګه چې پارازیتیمیا په حملوي ډول رامنځ ته کېږي نو MP کېدای شي په ځیني وختونو کې منفي او په ځینو نورو وختونو کې مثبت وي نو له همدې کبله وینه باید په هرو ۸ ساعتونو کې د دریو ورځو لپاره د تبې د لوړوالی په مابین او تر هغه وروسته معاینه شي همدارنګه نور اړین لابراتواري معاینات یې په لاندې ډول دي

- هایپوګلایسیمیا (<2.2mmol/d )
- هایپرلکتیمیا (> 5mmol/L )
- میتابولیک اسیدوزس( <15mmol/d )
- د ځیګر د انزایمونو لوړوالی.
- د عضلاتو د انزایمونو لوړوالی.
- WBC د 12000/µ L څخه لوړ.
- شدیده کم خوني( PCV <15% ).
- دمویه صفحات(Platelate ) 50000 څخه ښکته وي

## د ملاریا تفریقی تشخیص ؛

- Meningitis ( د منینجیت التهاب)
- Appendicitis ( اپندیکس التهاب)
- Gastroenteritis ( د معدی او کولمو التهاب)
- Hepatitis
- Tuberculosis
- Septicemia.
- Dengue Fever

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Kalazar
- د ځیګر امیبي ابسې.
- Sepsis
- بولي انتانات.
- د محرقې تبه
- انتاني هیپاتایتس.

## د ملاریا اختلاطات:

اکثره وخت د ملاریا اختطلاطات د پلازموديم فلسیپارم له امله وی، د پلازموديم فلسیپارم تشخیص یوه طبی ایمرجنسی ده چی باید همیش په دقیق ډول سره یی تشخیص وضع شی او په بشپړډول سره تداوی شی، د ملاریا خاص اختطلاطات په لاندې ډول دي.

## دماغي ملاریا (Cerabral Malaria ):

- دماغي ملاریا (Cerabral Malaria ): دماغي ملاریا د ملاریا ناروغی د ټولو اختطلاطاتو په پرتله یو خطرناک اختطلاط دی چې په شدید سردرد،د شعور د کچی کموالی، اختلاج، کوما او یا نورو نیورولوجیک تغیراتو سره پیژندل کیږی، CSF فشار په کې لوړ وی مګر معاینه اکثره وخت نارمل وی ، دماغی ملاریا که چې په وخت سره یې تداوي ونه شي د مورتيبيليتی ریټ یې لوړ دی او پاتی نیورولوجیک نیمګړتیاوې په خاص ډول هغه وخت منځ ته راځی چې کله ورسره هایپوګلایسیما ملګری وی ، کوما دشدیدي فلسیپارم ملاریا یوه ځانګړې او منحوسه کلینيکي لوحه ده چې له درملنې سره سره به لویانو کې ۲۰ فیصده او په کوچنیانو کې ۱۵ فیصده مړینه رامنځ ته کوي د ناروشغ د خواصو تغیر (Delirium او په لږه اندازه د شعوراختلال ته هم باید جدي دماغي ملاریا کیدای شي په ناځاپه یا په ورو ډول له اختلاج سره پیل شي او د دوه اړخیزي انسفالوپتي په شان ځرګندتیاوي ولري پاملرنه وشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چې بشپړ د ملاریا ضد درمل او حساس وقایوی تدابیر ونیول شي انذار یې ښه دی.

- بلیک واټرفیور(hemoglobinuria): په کتلوی ډول سره د هیمولایزس له امله هیموګلوبین یوریا منځ ته راځي چې د ادرارو رنګ ډارک یعنې تور معلومیږي او شاید د پښتورګو حاده عدم کفایه منځ ته راشي.
- د زړه احتقاني عدم کفایه،
- ډیهایډریشن.
- حاد تنفسي ډیسټریس سندروم.
- .ژیړی.
- شدیده وینه لږی(Anemia).
- ډیسیمینټید انټراواسکولرکواګولیشن( DIC ).
- هایپوګلایسیمیا.
- دوراني کولبس.
- ټروپیکل سپلینومیګالي سندروم.
- نیپروتیک سندروم.

## درملنه

1. عمومي اهتمامات:
2. خاص تدابیر:

### عمومي اهتمامات

- ناروغ ته باید د درد ضد درمل او د تبې ضد درمل ورکړل شي.
- د ډیهایډریشن په صورت کې ناروغ ته مایعات ورکړل شي.
- که چیرته اړتیا وه د انیمیا لپاره ټرانسفیوژن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاص تدابیر:

### د درملو په واسطه درملنه:

کله چې د ملاریا تشخیص وضع شي نو باید چې ناروغ ته سمدلاسه د ملاریا ضد درمل شروع شي. او که چیرته د ملاریا په درملنه کې معطل وشي نو کیدای چې د ملاریا په انذارو باندې اثر وغورځوي اوناروغ د ملاریا شدید ډول ته واوړي او د تداوۍ په مقابل کې مثبت ځواب هره ورځ په ناروغ کې پارازیتیمیا کمه وي.

**:Palsmodium Vivax (1)**

**Chloroquine Phosphate**

کلوروکین د ملاریا ضد درمل دي چې په ایروتوسایتیک پارازیټ باندې اثر کوي او یوازې په **Chloroquine Sensitive plasmodium** کې کلوروکین پاسپیټ انتخابي درمل دي ، دوز یې په هرکیلوګرام وزن دبدن ۱۰ میلي ګرام (10 mg/kg) ورکول کیږي په ازاد بازارونو کې په مختلفونومونو(Resochin ) یادیږي چې **250mg chloroquine phosphate** لري په داسې حال کې چې **150mg Chloroquine base** دی او د کوچنیانولپاره یې شربتونه هم شته چې اندازه یې 50mg/5ml ده او که چیرته د 24-48 ساعتونو په دوران کې په چټک ډول سره د پارازیتونو اندازه ښکته رانغله او یا دخلورو ورځو په مابین کې ټیسټ منفي نه شو نو دا بیا **chloroquine resistant malaria** په ګوته کوي. کلوروکین په لاندې ډول ورکول کیږي

**10mg base/kg orally follow by 5mg base/kg at 6 hour,24 hours ، 48 hours.**

یا لومړی ۴ تابلیت.

شپږساعت وروسته ۲ تابلیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راتلونکو دوه ورځو لپاره ۱ تابلیت د ورځی دوه ځلې. چې یو کاهل شخص ته توټل ۱۰ تابلیت ورکول کیږي.

او یا 10mg base /kg on day, 10mg base/kg on day 2 and 5mg base/kg on day 3

**(2) Plasmodium Falciparum Malaria یا Chloroquin resistant P. Vivax**

**a) Quinine sulphate**

ډوز: 10mg/kgTID for 7 days جمع یو د لاندې درملو څخه.

**Doxycycline**: 4mg/kg د ورځی دوه ځلې د 7 ورځو لپاره. دا تو کالو څخه ښکته ماشومانو ته نه ورکول کیږي.

**Tetracycline**: 25mg/kg/day QID د 7 ورځو لپاره، دا هم د اتو کالو څخه ښکته ماشومانو ته نه ورکول کیږي.

**Clindamycin**: 20mg/kg/day TID د 7 ورځو لپاره.

**Fansidar**: Pyramithamine 1mg/kg once

**b) Arthemeter**: 3.2mg/kg/day for one day follow by 1.6mg/kg for 5-6 days.

(3) د شدیدې او اختلاطي ملاریا تداوي:

Quinine DHC: 20mg/kg (loading dose) باید په 10ml/kg 5% مایع کې رقیق شي یا په 10% D/W IV کې او بیا د 4 ساعتونو په دوران کې ورکړل شي، تعقیب یې وروسته د 8 ساعتو د loading dose څخه 10mg in 10ml/kg 5% or D/W په دوران د 4 ساعتونو سره وشي ترهغه پورې چې ناروغ د خولې د لارې د کونین توانایي پیدا کړي (10mg/kg TID) او د تداوی 7 ورځې پوره کړي، که چیرته په ناروغ کې کوما د 48 ساعتو څخه زیات دوام وکړي نو بیا د کونین دوز 7mg/kg/day ته راټیټ کړي. جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



Arthemeter: IM 3.2 mg /kg تعقیب بې په 1.6mg/kg هره ورځ د 6 ورځو لپاره د شدیه اود سرزوري کیسونو کې باید د مشرانو پروفیسرانو ډاکترصاحبانو سره مشوره وشي.

(4) په P.Vivax تثبیت شوو ناروغانو کې د ملاریا د بیا راګرځیدو ضد (Anti Relapse) تداوي.

**Primaquin:**

د وقایې او د یا د ملاریا د بیا راګرځیدو د مخ نیوي په خاطر اړینه ده چې ناروغ ته 0.25mg base/kg primaquin د ورځې یوځل د دوه اونیو لپاره د غذا سره ورکړل شي. ترڅو hepatic hyponozoites له منځه یوسي او له راګرځیدو څخه یې مخنیوي وکړي

هغه ناروغان چې په G6PD deficiency باندې اخته وي باید primaquin ورته ورنه کړل شي، Primaquin یوازې هغه ناروغانو ته ورکړل شي چې P.Vivax په کڅ تثبیت شوې وي.

- مخکې د primaquin د توصیه کېدو څخه باید د G6PD deficiency خفیف، شدید او متوسط وضیعت مشخص شي.
- تر هغه پورې چې د G6PD deficiency د وضیعت مراحل ممکن نه وي د طبي پرسونل د نظارت لاندې د خون ریزۍ دکشف په خاطر ناروغ ته 0.75mg base/kg primaquin په هفته کې یو ځل د 8 اونیو لپاره ورکړل شي.
- د خون ریزۍ یا د وینې بهېدنې په ټولو واقعیاتو کې باید primaquin په عاجل سره قطع شي او د اضافي معایناتو لپاره ناروغ ته رجعت ورکړل شي.
- هغه مېندې چې حامله وي او یا خپلو کوچنیانو ته شېدې ورکوي باید Primaquin ورته توصیه نه شي.
- که primaquin په خالي ګېډه توصیه شي د ګېډې د نااراحتۍ سبب کیږي نو اړینه ده چې له غذا سره یوځای توصیه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (5)
# برانشيولايتيس
# (Bronchiolitis)

برانشيولايتيس په کوچنيانوکې دښکتنيوتنفسي هوايي لارو يو شديد او حاد انتان دی چې زياتره هغه ماشومان پرې اخته کيږي چې عمرونه يې د يو څخه تر شپږو مياشتو پورې وي(خو په هر حال د دغه عمر څخه پورته کوچنيان هم پرې اخته کيدای شي

او يا برانشيولايتيس د شيدو خوړونکو ماشومانو دبرانشيولونويوه التهابي ناروغي ده چې د التهابي بندښت له کبله په کې تنفسي عسرت منځ ته راځي.

وقوعات:

دا ناروغي په ماشومانو کې يوه ډيره معمول ناروغي ده چې د کوچنيو تنفسي لارو له امله تقريبا 6-7% په هغوماشومانو کې منځ ته راځي چې عمرونه يې 2 کالو څخه کم وي خو زياتره وقوعات يې په 6 مياشتني عمرکې منځ ته راځي.

د ښځوپه نسبت دا ناروغي په سړو کې ډيره منځ ته راځي. چې زياتره وقوعات يې په ژمي او سپرلي کې منځ ته راځي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسباب:

1. د نورو سببو نو په نسبت يې **Respiratory syncytial virus** **(RSV)** يو ډير عام سببي عامل دی.
2. **Para-influenza virus**
3. **Adenovirus**

پتوجنيزيس :

د برانشيولونو ويروسي حمله التهاب رامنځ ته کوي او دميوکس، حجروي **debris** او پړسوب د يو ځای کېدو له امله د برانشيولونود انسداد لامل ګرځي او په ځينو ناروغانو کې **spasm** هم پيدا کوي چې په نتيجه کې تنفسي مقاومت زيات او د هوا جريان کميږي.

د برانشيولايټس د خطرفکتورونه :

- د وخت څخه مخکې زيږيدنه.
- کم وزنه ماشومان ځکه چې په دې ماشومانو کې معافيتي سيستم يې پوره بشپړشوې نه وي او د بلې خوا مورنۍ انتي بادي يې موجوده نه وي.
- د سږو مزمنې ناروغي.
- د مور د سګرټو څښل .
- د زړه ولادي ناروغي.

کلينيکي تظاهرات:

- د پورتني تنفسي سيستم د انتان موجوديت . چې زياتره کورنۍ تاريخچه لري.
- په ناروغ کې تنفس سريع وي چې په نتيجه کې يې تنفسي عسرت منځ ته راځي.
- زياتره ناروغان په کې خفيف اعراض لري او د درې څخه تر اوو ورځو په موده ريکور کيږي او هغه ناروغان چې شديدحالت ولري شايد چې په کې د ښکتنيو **intercostals spaces** ريټرکشن موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ناروغ خفيف پوزه بهيد نه لري.
- ناروغ په شېدو ځنبنلو ستونزه لري او استفراق کوي يې او هم ورسره ناارامه وي.
- په شديد انتان کې ناروغ ډيسپنيک وي او شايد چې سيانوزډ ډوله ښکاره شي.
- ناروغ کې متوسطه تبه موجوده وي.
- فاين کريپيټيشن او رانکای په کې د اوريد قابل وي.
- په شديدو واقيعاتو کې امکان لري چې تنفسي اواز د اوريدو قابل نه وي او يا کمزوری وي.

## تشخيصي پلټنې :

1. د سينې اکسری (Chest-X-ray ): د سينې په اکسری کې په سږو کې هايپراينفليشن ليدل کيږي چې lucency يې هم زياته وي او هم يې قدامي خلفي قطر زيات وي.
2. اکسرا WBC په کې نارمل وي.
3. د naso-pharyngeal افرازاتو څخه بايد وايرل کلچر اجراشي.
4. وايرل انتي بادي ټايټر.

## اختلاطات :

1. تنفسي عدم کفايه.
2. ديهايدريشن.
3. تنفسي اسيدوزس.
4. د زړه عدم کفايه.
5. نوموتوراکس.
6. نمونيا.

## تفريقي تشخيص :

1. د زړه احتقاني عدم کفايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. نفس تنګي.
3. برانکونمونیا.
4. پرتیوزس.
5. په تنفسي لارو کې د اجنبي اجسامو داخلیدل.
6. سیستیک فایبروزس.

## تداوي:

## د ناروغۍ کورس او انذار:

په عمومي ډول سره برانشیولایتس یوه خپله ښه کېدونکې ناروغي ده، اعراض یې د 7-3 ورځو په موده کمیږي، په شدیدو ناروغانو کې د تنفسي عدم کفایې له امله په یو فیصد ناروغانو کې مړینه منځ ته راځي.

عمومي اهتمامات:

1. هغه ماشومان چې په برانشیولایتس اخته وي باید چې د والدینو له خوا یې بشپړ مراقبت او ساتنه وشي.
2. نوموړي ناروغان باید په کور کې د نورو ناروغانو څخه لري وساتل شي او هم یې حفظ الصحه په نظر کې ونیول شي.
3. که چیرته په ناروغ کې په ناڅاپي ډول سره تنفسي ستونزې ولیدل شي نو باید چې ژر تر ژره صحي کلینیک یا روغتون ته ولیږدول شي.
4. ناروغان باید د خاورو دوړو څخه لري وساتل شي.
5. ناروغ ته باید کافي او مناسب خواړه ورکړل شي.
6. همدارنګه ماشوم باید تونډ بویو څخه وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## فارمکالوژیکه درملنه (Pharmacotherapy)

1. هغه کوچنیان چې شدیده ناروغي ولري یعنې تنفسي عسرت ولري باید چې په روغتون کې داخل شي او زیاتره وخت یې تداوي عرضي وي.
2. زیاتره وخت د برانشیولایتس تداوی عرضي وی، هغه کوچنیان چې په متوسط ډول سره ناروغي ولري په کور کې په مرطوبه هوا کې ساتل کیږي. او که چیرته تنفسي ناروغي یې زیاته شي او یا ورته په شپدو څنبلو کې ستونزه پیدا شي نو په دغه صورت کې ماشوم باید روغتون ته انتقال شي.
3. اوکسیجن (Oxygen) د هایپوکسیا لپاره.
4. ناروغ ته باید °30-40 زاویه په اندازه وضیعت ورکړل شي.
5. د ډیهایدریشن لپاره وریدي مایعات یا د خولې له لارې.
6. د الکترولایتونو عدم توازن او تنفسي اسیدوزس باید سم کړای شي.
7. په شدید برانشیولایتس کې چې Respiratory Synctial virus د ناروغي عامل وي Ribavirin چې یو انتي وایرل اجینټ دی شاید چې استعمال شي (خو په اختلافي ډول سره).
8. په برانشیولایتس کې د خوب راوړنکو درملو د استعمال څخه باید ډډه وشي.
9. په شدیدو واقیعاتو کې که چیرته د باکتریایي انتان د مداخلې شک موجود وي انتي بیوتیک ورکول کیږي.
10. Bronchodilators او کورتیکوستیروایډ استعمال کوم خاص رول نه لري خو بیا هم د اعراضو به کموالي کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# (6)
# شری / سرخکان
## (Rubeolla) Measles

شری یوه حاده وخیمه ساري ویروسي ناروغي ده چې د ویروس په واسطه منځ ته راځي او د تبې، پورتني تنفسي لارې التهاب، maculopapuler جلدي اندفعات او Kopliks spot په موجودیت سره پیژندل کیږي، د شری ویروس د RNA د ویروسونوله جملې څخه دی چې د Paramyxoviridase د کورنۍ سره اړیکې لري.

**Epidmiology:**

انسان د شری کوربه دی شری په ټوله نړۍ کې په اینډیمیک او اپیډیمیک ډول لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقوعات یې په ژمي کې ډېر منځ ته راځي.
شری د جلدي اندفاعاتو د ښکاره کېدو څخه ۴ ورځې مخکې او وروسته بیا تر ۵ ورځو پورې سرایت کولای شي.
هغه ماشومان چې عمرونه یې د ۳ کالو څخه کم وی او په درست ډول سره تغذیه شوي نه وي وقوعات یې په کې ډېر لېدل کېږي.

د شری د انتقال لاره:

شری د انفي بلعومي افرازاتو(naso-pharyngeal secretions) په واسطه د هواد لارې د پورتني تنفسي سیستم څخه روغ ماشوم ته سرایت کولای شي.

پتوجینیزس:

کله چې د شری ویروس پورتني تنفسي لارې مخاطي غشا ته سرایت وکړي، په همدغه مخاطي غشا کې او په لمفاوي عقداتوکې تکثر کوي او په دوهمه او دریمه ورځ ابتدايي وایریمیا منځ ته راوړي او د دغه ځای څخه ویروس لمفاوي انساجو ته سرایت کوي او د ناروغۍ په ۵ یا ۷ ورځ شدیده ثانوي وایریمیا منځ ته راوړي او ناروغي په ټول بدن کې خپرېږي.

کلینیکي تظاهرات:

د شری د ناروغي د تفریح دوره د ۱۰–۱۲ ورځوپورې ده او د دغه دورې د تیریدو څخه وروسته درې مرحلې لیدل کیږي یا د شری په ناروغۍ کې درې کلینیکي مرحلې لیدل کیږي.

۱) Prodromal Stage:

دغه مرحله د ۳- ۵ ورځو پورې دوام کوي دا مرحله په لوړې درجې تبې، کمزوتیا چې ورسره ټوخی هم ملګری وي، منضموالتهاب (Conjunctivitis) ریزش، د جفن التهاب او kopliks spots چې د شری ناروغي یو پتوګونامیک نښه ده پیژندل کیږي چې د جلدی اندفاعاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا کيدو څخه دوه ورځې د مخه پيدا کيږي، په دې مرحله کې توخي شديد دغبا په شکل وی او د شپې پر مهال ډېر د نوټ کيدو ور وي همدارنګه Kopliks spots د شری د ناروغۍ د پيژندو لپاره يوه ډېره ښه تشخيصي نښه ده او کيدای شي خلفي سرويکل lymphadenopathy ور سره هم يو ځای وي.

۲ ) د Exanthem مرحله يا د جلدي اندفاعاتو مرحله :

جلدی اندفاعات يا Maculopapular Rash د شری يوه وصفي نښه ګڼل کيږي او د ۳-۵ ورځو پورې دوام کوي نوموړې اندفاعات د د غوږونو د خلفي برخو ،د غاړی جنبي برخه څخه شروع او په ۲۴ ساعتونو کې مخ، غاړه، د سينې پورتنۍ برخه او متانو ته انتشار کوي او په دوهم ۲۴ ساعتونو کې خيتې، شا، لاسونو او په دريمه ورځ پښوسرايت کوي چې په دې مرحله په جلد کې اذيمااو په مخ کې يو اندازه پړسوب ليدل کيږي. د کلينيک له نظره نوموړې اندفاعات ډېر ارزښت لري يعنې څومره چې د پوستکې پرمخ اندفاعات ګڼ وی د ناروغۍ شدت په ګوته کوي او که اندفاعات ګڼ نه وي نو کيدای شي ناروغی خفيف شکل ولري.

۳ ) د نفاهت او تفلس دوره :

کله چې جلدی اندفاعات له منځه ولاړ شي نوموړې مرحله منځ ته راځي او د جلد پرمخ تفلسات ليدل کيږي مګردا تفلسات د لاسونو او پښو په تلو کې نه ليدل کيږي او د تفلس د منځه تلو څخه وروسته صباغات يا Pigmentation منځ ته راځي.

همدارنګه امکان لري چې Posterior cervical lymphadenopathy او په لږه اندازه Spenomegaly هم وليدل شي. او هم شايد چې د mesenteric lymphadenopathy له امله د ګېډې درد هم موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیمورژیک شری او یا بلیک میزل د شري یو شدید ډول دی چې په دغه ډول شری کې جلدي اندفاعات په کې ډېر ګڼ وی ایکایموزس او د خولې او پوزې څخه وینه بهیدنه په کې هم لیدل کیږي او مخکې د دې څخه چې جلدي اندفاعات په کې تظاهر وکړي مړینه هم منځ ته راوړي.
ناروغ تبه او د پورتني تنفسي سیستم انتان مخکې د جلد د بخار د رامنځ ته کېدو څخه لري.

تشخیص:

- د شرې تشخیص عموماً د کلینیکي اعراضو او علایمو په واسطه صورت نیسي او قطعي تشخیص یې د وایروس د کلچر په واسطه صورت نیسي.
- د WBC یا د وینې د سپین کرویاتو اندازه په کې کمه او ورسره لمفوسایتوزس موجود وي او په سیرالوجي معایناتو کې جلدي اندفاعات د ښکاره کېدو څخه ۳۰-۲۰ ورځې وروسته د Specific IgM سویه لوړه وي.
- د شرې په ناروغي کې د IgM antimeasles antibldy اټکل کیږي چې د جلدي اندفاعاتو څخه درې ورځې وروسته او د یو میاشتې لپاره پاتې کیږي.
- شرې باید د ماشومتوب د نورو exanthematous ناروغیو څخه تفریق شي.

تفریقي تشخیص:

1. Rosola infantum.
2. Kawasaki disease
3. توکسوپلازموزس.
4. انتاني مونونوکلیوزس.
5. Erythema infectious>

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. مینینګوکوسیمیا.
7. سکارلیت تبه.
8. روبیلا.

## اختلاطات:

د شری اختلاطات په هغه کوچنیانو ډېر تظاهر کوي چې سو یې تغذي او یا کم مافیته کوچنیان وی. د شری عام اختلاطات په لاندې ډول دی

1. د منځني غوږ التهاب
2. بکتریایي برانکونمونیا.
3. د حنجرې التهاب.
4. د تراهیا التهاب.
5. د قصباتو التهاب.
6. Giant cell نمونیا.
7. برایشوایکتایزس.
8. توبرکلوز.
9. مقاوم اسهال.
10. د اپنډیکس التهاب.
11. هیپاتایتس.
12. د اوریو ګانګرین.
13. اینسیپالایتس (1:1000 واقیعاتو کې).
14. تحت الحاد سکلیروزنګ پان اینسیپالایتس. دا یو مزمن اینسیپالایتس دی چې د مرکزي عصبی سیستم د شری د مقاوم ویروسي انتان له امله منځ ته راځي.
15. هیمورژیک شری: په fulminant شری کې شاید چې د هضمیي سیستم په مکوزا کې هیموراج منځ ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



16. ترومبو سايتو پينيا .
17. د شرى ځخه وروسته د معدې او كولمو التهاب.
18. اوپتيک عصب تخريب.
19. كورنيال السريشن.
20. كوجنكتيوايتس.
21. مايوكارد ايتس.
22. د زړه عدم كفايه.

تداوي :

د شرى لپاره كومه خاصه Anti-viral درملنه نشته او يوازې محافظوي او عرضي تداوي بې اجراكيږي خو بيا هم د تداوى په منظور بيې لاندې ټكې په نظر كې نيول كيږي.

- ټول هغه كوچنيان چې په شرى اخته وي او شديده تبه ولرى بايد په روغتون كې په داسې اطاق كې بستر شي چې نور ناروغان ورسره نه وى او د نرسانو او ډاكټرصاحبانو له خوا بې بشپړ ۲۴ ساعته مراقبت او ساتنه وشي.
- ناروغ ته بايد نرمه غذا او مناسبه غذا وركړل شي.
- كه چيرته ناروغ د حنجرې په التهاب اخته وي په دغه صورت كې بايد د كوټې رطوبت او د تودوخې درجې ته خاصه پاملرنه وشي.
- ټول د شرى ناروغانو ته بايد كافي استراحت توصيه شي.
- تبې لپاره د تبې ضد درمل توصيه شي.
- هغه ماشومان چې پوتوپوبيا ولري بايد د قوې رڼا د معروضيدو ځخه وساتل شي.
- د Otitis media او دنمونيا لپاره مناسب انتي بيوتيک وركړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د شرى په ۹۰ فيصده ناروغانو كې هايپوريټينيميا موجوده وي او د Vit A ذخاير كم او Xeropthalmia او د قرني تقرح منځ ته راځي نو له همدې بايد چې د شرى ټولو ناروغانو ته Vit A تطبيق شي چې په شرى كې د Vit A تطبيق د ناروغانو په مورټيليټي او موربيډيټي كې د كموالي سبب كيږي.
- د ويټامين A ډوز: هغه ماشومان چې عمرونه يې د ۲ مياشتو څخه تر ۱۲ مياشتو پورې وي 100000 unit او د يو كلنۍ څخه پورته عمر ته 200000 unite توصيه شي.

په شرى كې د Vit A نقش:

- تقريباً د شرى ۹۰ – ۷۲ فيصده ناروغان hypo-retinemia لري.
- كه چيرته retinal concentration كم وي نو شرى په ډير خطرناك وي.
- دا په ثبوت رسيدلى ده چې په شرى كې د Vit A وركړه د ناروغانو مړينه راكموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (7)

# شیجیلوزس

# (Bacillary Dysentery) Shigellosis

شیجیلوزس یا باسیلری ډایزینټري عبارت د هغه اسهال څخه دی چې په غایطه موادو کې وینه،میکوس (بلغم) او pus cells موجود وي او یا داسې هم ویلای شو چې کله په اسهال ښکاره وینه موجوده وي دغې حالت ته ډایزینټري وایي

د Bacillary Dysentery اصطلاح هغه وخت کارول کله چې ډایزینټری دشجیلا په واسطه رامنځ ته شوې وي.

شجیلا یو غیر حرکت کوونکې ګرام منفي باسیل دی چې څلور خاص ډولونه لري.

1. Shigellae dysenteriae(group A)
2. Shigellae flexneri(group B)
3. Shigellae boydi (group C)
4. Shigellae sonnei (group D

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایپیدیمیولوجي:

شجیلوزس د ماشومانو یوه ډېره عامه ناروغي او په هغه ماشومانو کې ډېره منځ ته راځي چې عمرونه یې د ۱۰-۱ کالو په شاوو خواکې وي او په دغه ګروپ ماشومانو کې یې زیاتره د انتقال لاره فیکواورال ده او نوموړې ناروغي په لومړی شپږمیاشتني عمر ماشومانو کې کمه منځ ته راځي. انسان د دې انتان کوربه دی.

ملوثه غذا او به د دې ناروغۍ د خپرېدو مهمې منابعې دي.

د تفریح دوره یې ۷-۱ ورځې ده.

پتوجینیزس:

شجیلا یو حمله کوونکې پتوجین دی او د امعاوو سطحي ایپیتیل حجرات تخریبوی او التهاب، پړسوب، مایکرو ابسي او د وینې سره السریشن رامنځ ته کوي چې زیاتره د غټو کولمو د کولون برخه مصابوي.

کلینیکي تظاهرات:

- امکان لري چې پیل یې ناڅاپي وي.
- کوچنیان شاید چې د ګېډې درد ولري.
- د استفراقاتو او اسهال له امله په ناروغانو کې ډیهایدریشن لیدل کیږي.
- تبه د (40°C) $104^0F$ په اندازه وي چې د ۳-۱ ورځو لپاره پاتې کیږي.
- د ګېډې په ښکتنۍ برخه کې منتشر د ګېډې سختوالې موجود وي.
- په اوبلن او میوکایید غایطه موادو کې وینه موجوده وي.
- په شجیلوزس کې اعراض د ۷-۳ ورځو لپاره پاتې کیږي.

تشخیص:

- د غایطه موادو په معاینه کې به لیوکوسایت (pus cells) او د وینې سرو کرویاتو حجرات به په کې لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وينې په بشپړ اندازه کې به ليوکوسايتوزس ليدل کيږي.
- هغه کوچينان چې توکسيک ښکاري شايد چې د وينې کلچر په کې مثبت وي.
- دقيق تشخيص يې د غايطه موادو د کلچر په واسطه د شجيلا تشخيص دی.

اختلاطات:

- هيمولاتيک يوريميک سندروم.
- ميتاستاتيک انتانات.
- فيبرايل اختلاج.
- شاک.
- اسيدوزس.
- ريکتل پرولپس.

تفريقي تشخيص:

- د هغه اورګانيزمونو سره يې بايد تفريقي تشخيص وشي چې هغه د ډايزينټري لامل کيږي لکه Entero-invasive E.coli ، Entamoeba-histolytica ، Yersinia-enterocolitica.
- التهابي bowel ناروغي.

تداوي:

- ناروغ ته مايعات او هم ورسره الکترولايتونه ورکړل شي
- د O.R.S محلول بايد وکارول شي.
- انتي بيوتيک : منتخب انتي بيوتيک هغه وخت وضع کيږي چې د غايطه موادو کلچر اجرا شي.
- ټول انتي بيوتيکونه بايد د ۵ ورځولپاره ورکړل شي.
- موثره انتي بيوتيک په کې Ampicillin ، Trimethoprim-Sulfamethoxazole ، nalidixic acid ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



Chloramphenicol، Ceftriaxone,Ciprofloxacin,Cefixime

او (Azithromycin(12mg /kg

د خولې له لارې د ورځې يو ځل چې تعقيبي ډوز يې 6mg/kg د ۴ ورځو لپاره.

مخنيوي:

- ميندې بايد وهڅول شي چې د اوږدې مودې لپاره خپلو کوچنيانو د سينې شيدې ورکړي.
- وروسته د رفع حاجت څخه په پشپړ ډول سره د لاسونو پريمينځل.
- د ډوډۍ څخه وروسته او مخکې د لاسونو وينځل.
- په پشپړ ډول سره د حفظ الصحی مراعت کول.
- د کور او د اړونده برخو د چاپيريال پاک ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(8)

# د نوو زیږیدلو ماشومانو ژیړی

## Neonatal Jaundice

## (Jaundice Neonatorum)

د نووو زیږیدلو ماشومانو ژیړی یا Neonatal hyperbilirubinemia یو داسې حالت دی چې په وینه کې د بیلروبین د غلظت د زیاتوالي له امله منځ ته راځي. او یا داسې هم ویلای شو چې ژیړی د پوستکې یا سکلیرا ژیړ رنګ ته ویل کیږي چې د بیلروبین د زیات تراکم او زیات تولید له کبله رامنځ ته کیږي.

### زیړی (Jaundice) :

په نوو زیږیدلو ماشومانو کې جاینډس یا د پوستکې او د سترګو زیړوالی یو ډیر عام حالت دی چې په حقیقت کې ۶۰ فیصده ماشومان د ولادت په څو ورځوکې په زیړی باندې اخته کیږي او د ډیرو ناروغیو د موجودیت لپاره یوه ډیرې نښې جوړوی او هغه وخت منځ ته راځي کله چې په لوړ غلظت بیلروبین په وینه کې منځ ته راشي، بیلروبین یو زیړ رنګ یا پیګمنټ دی چې د وینې د سرو کرویاتو د پارچه کېدو په صورت کې منځ ته راځي، په نارمل ډول سره بیلروبین د ځګر له لارې د امعاوو لیومین ته خوشي کیږي، په هر حال په نوو زیږیدلو ماشومانو کې ځګر د پخیدو په حال کې وي او نه شي کولای چې په درست ډول د وینې څخه بیلروبین اخراج کړي او نوموړې بیلروبین په جلد، مخاطي غشا، دبدن معایعات او سترګو کې تراکم کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوستکې او سترګې ژیړې معلومیږي چې همدغې ژیړوالي ته ژیړی وایي.

د ژیړی ډولونه.

ژیړی یا hyperbilirubinemia عموما په دوه ډوله ده.

۱) Indirect (Unconjugated) hyperbilirubinemia

۲) Direct (Conjugated) hyperbilirubinemia

غیرمستقیم بیلروبین به په خپله منشا کې پتالوجیک وی او یا به فزیالوجیک مګر مستقیم بیلروبین همیشه د پتالوجیک اسبابو له امله منځ ته راځي چې دواړه ډولونه یې ژیړی رامنځ ته کوي. د غیر مستقیم بیلروبین نیورولوجیک غلظت شاید چې په نوو زیږیدلو ماشومانو کې Kernicterus رامنځ ته کړي چې د کوچنیانو د دایمي معیوبیت او یا د مړینې لامل ګرځي.

ژیړی د نووزیږیدلو ماشومانو د ناروغیو یوه برخه جوړوي، 60% په مودې ماشومانو کې او 80% په بې مودې ماشومانو کې کلینیکي ژیړی منځ ته راځي چې د بیلروبین اندازه یې د ژوند په لومړۍ اونۍ کې د 5 ملي ګرامو څخه پورته وي.

Indirect (Unconjugated) hyperbilirubinemia:

غیر مستقیم هایپربیلروبینیمیا:

ایتیولوجي:

غیرمستقیم هایپربیلروبینیمیا شاید چې د بیلروبین د زیات تولید، (هیمولایزس) د وینې څخه د بیلروبین د نامکمل پاکیدو څخه او یا د ځګر په واسطه د بیلروبین دنامکمل اتصال په نتیجه کې منځته راشي.

خاص اسباب:

1. ډیر عام سبب یې فزیولوجیک ژیړی دی.
2. هیمولایتیک انیمیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ABO incompatibility
- Rh incompatibility
- G6PD deficiency
- انتانات. خصوصاً sepsis.
- دواګاني.
- Hereditary sphrocytosis

3. پولي سايتيميا :

- د شکرلرونکو ميندو ماشومان.
- د کارد وروسته بندوالي.
- Feto-meternal or feto-fetal transfusion

4. Blood extravasation

- سيالوهيماتوما .

5. Breast milk and breat feeding jaundice
6. Glucuronyle transferase defect

- Crigler Nijjar Syndrom(type 1,11)
- Gilbert syndrom

7. ميتابوليکي ناروغۍ

- Galactosemia
- Hypothyroidism

8. Increased enterohepatic circulation

- د کولموبندښت او د پايلوردبرخې بندښت.

## فزيالوژيک ژيړي:

فزيولوژيک ژيړی د ژيړی يو ډېرمعمول او عمومي ډول دی چې د نوو زيږيدلو ماشومانو د ژوند په لومړۍ هفته کې د ارتقا په حالت کې د ليدلو وړ ژيړی چې د Indirect (Unconjugated)د غلظت د لوړوالي پورې اړه لري چې دغه عمومي حالت د فزيولوژيک ژيړی په نوم يادېږي، نوموړې ژيړی په لومړۍ مرحله کې په بامعياده کوچنيانو(term) کې ۵ ورځې او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



preterm ماشومان کې ۷ ورځې په برکې نیسي او د وینې د بیلروبین سویه په سرعت سره 12mg/dl – 10 او حتا تر 15mg/dl ته هم پورته کیږي او په دوهمه مرحله کې دوه اونۍ په برکې نیسي او د وینې د بیلروبین سویه 2mg/dl ته راښکته کیږي. د دې ډول زیړی د پیداکیدو په برخه کې د بیلروبین اینتیرو هیپاتیک سرکولیشن هم رول لري ځکه چې د نوی زیږیدلو ماشومانو په کولمو کې د څو لومړنیو ورځولپاره د باکتریاو فعالیت موجود نه وي له همدې کبله بیلروبین په یوروبیلینو جین نه بدلیږي.

خصوصیات:

- دا ډول زیړی معمولاً په روغو ماشومانو کې ښکاره کیږي.
- نوموړې کلینیکي زیړی وروسته د ۲۴ ساعتو څخه ښکاره کیږي.
- د مجموعي بیلروبین لوړوالی په ورځ کې د 5mg/dl څخه کم وي.
- فزیولوژیک زیړی د ځګر د **immaturity** او ګلوکورونیل ترانسفراز انزایم د کموالی له امله پیداکیږي.
- هغه ماشوم چې په فزیولوژیک زیړی اخته وي نا روغ نه ښکاري او د هیمولایزس اعراض او علایم یې موجود نه وي د فزیولوژیک زیړی د موجودیت په حالت کې د ادرارو او غایطه موادو رنګ نورمال وي . د بیلروبین سویه ۱۰-۱۴ ورځې وروسته 1mg ته رسیږي او که چیرته غیرمستقیم بیلروبین د ژوند لومړنیو دوه اونیو څخه وروسته دوام وکړي نو په نوموړې حالت کې ممکم هیمولایزس، ګلوکورونیل ترانسفراز انزایم ارثي کموالي، breast milk jaundice ، هایپوتایرویدیزم، د کولمو انسداد او د کالوری د پیداکیدو سبب کیږي .
- د پورتنیو کریتیریاګانو څخه علاوه بل زیړی فزیولوژیک زیړی نه ګڼل کیږي او باید چې د لا زیاتو تاریخچې او بشپړ معایناتو لپاره یې ارزیابي وشي.

د زیړي د ډول ډول لاملونو تفریقي تشخیص:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه زیړی چې د ماشوم د زیږیدلو څخه وروسته په لومړی ورځ پیدا شي عموماً د هیمولایتیک ناروغیو له امله وي.
- په لومړیو ۲۴ ساعتونو کې فزیولوژیک زیړی نه لیدل کیږي او که په یو full term ماشوم کې د ژوند د اولې هفتې څخه وروسته زیړی ولیدل شي نو نوموړی زیړی فزیولوژیک نه دی. او هغه زیړی چې د ژوند په دوهمه او دریمه ورځ پیدا شي فزیولوژیک زیړي بلل کیږي.
- په فزیولوژیک زیړی کې د ادرارو او غایطه موادو رنګ نورمال وی او که د غایطه موادو رنګ خاثف او د ادرارو رنګ تیاره وي انسدادي زیړی ته فکر کیږي.

د فزیولوژیک زیړي میکانیزم:

1. په نوو زیږیدلو ماشومانو کې د بیلروبین لوړ زیاتوالی د غټو RBC حجراتو والیم له امله ، د وینې د سروکرویاتو د ژوند کمولی له امله او د اینټیرو هیپاتیک سرکولیشن له کبله منځ ته راځي
2. د ځګر په واسطه د بلروبین نامکمل اخیستنه .
3. د بیلروبین نامکمل اتصال.
4. صفرا ته نابشپړ اطراح.
5. او په ټوله کې د ځګر د وظایفو کموالی.

پلټنې (Investigations) :

که چیرته د پتالوجیک لاملونو په اړه شک موجود و نو په دغه صورت کې باید په بشپړ ډول سره د Hyperbilirubinemia په اړه پلټنې وشي.

1. د total,direct,indirect سیروم بیلروبین اندازه.
2. د ریتوکولوسایت او د وینې د حجراتو مکمل اندزې تعینول.

- د هیمولایتیک انیمیا لپاره د هیموګلوبین اندازه.
- د دمویه صفحاتو اندازه د sepsis لپاره .
-

(c) ketabton.com: The Digital Library




3. د مور او د ماشوم د وینې د ګروپ تعین.
4. په ماشوم کې د direct Combs test.
5. نور اضافي معاینات. لکه.

- Thyroid function test
- Compleat urine examination
- .Liver function test
- .TORCH antibody titer
- .G6PD enzyme assay
- .Abdominat USG
- .HIDA Scan
- .Liver biopsy

د زیړي
## اداره :

په عام ډول سره د غیرمستقیم بیلروبین رابنکته کولو لپاره درې میتودونه کارول کیږي.

- **Phototherapy**
- **Exchang transfusion**
- **Pharmacological therapy**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## :Phototherapy

په پوتوتیراپي کې بیلروبین په Photo isomers باندې بدلیږي چې بیا د ځګر conjugating system له فرعي لاروڅخه په صفرا او ادرارو کې بې له دې څخه چې د میتابولیزم نورې لارې طی کړي اطراح کیږي. ماشومان چې د غیرمستقیم هایپربیلروبینیمیا ولري د فوتوتیراپی ابي رنګه ګروپونه چې د انرژي اعظمي out put یې 425-475mm وي د فوتوتیراپي لپاره خوار کافی او نوموړې کوچنیان د دغه ابي رنګه ګروپونو لاندې لوڅ اچول کیږي چې نوموړې لایټ انرژي په جلد کې توکسیک غیرمستقیم بیلروبین په نان توکسیک غیرمستقیم بیلروبین بدلیږي او د صفرا له لارې اطراح کیږي چې د ځګر په واسطه هیڅ کوم اتصال ته اړتیا نه لري. د فوتوتیراپی لاندې د ماشوم سترګې د یو سپینې ټوټې یا ګاز په واسطه ترل شوي وي او د یو معین وخت لپاره ترې ماشوم لاندې پروت وي، ماشوم هر دوه ساعته وروسته د یو اړخ څخه بل اړخ ته باید واړول شي او د حرارت درجه یې کنترول شي او باید هر ۸-۴ ساعته وروسته یې SBR اندازه شي د evaporation water loses په خاطر ۳۰ فیصده مایعات ورکول کیږي.

همدارنګه فوتوتراپي ته باید هغه وخت خاتمه ورکړل شي چې کله SBR ټیټ شي او د Toxicity خطرات له منځه ولاړشي او هم د بیلروبین toxicity لپاره د خطرفکتورونه له منځه ولاړشي او د ماشوم عمر دومره زیات شي چې د بیلروبین زیاتوالی تحمل کړي او کله چې فوتوتراپي بنده شي باید د 12-24 ساعتو څخه وروسته SBR ارزیابي شي

### د پوتوتیراپي لپاره استطبابات:

- د وینې د سیروم بیلروبین د un-conjugated له ډول څخه وي.
- د وینې د سیروم بیلروبین سویه د Exchang transfusion د سویې څخه 5mg ښکته وي.
- د Exchang blood په تعقیب سره فوتوتراپي اړینه ده.
- د نوو زیږیدلو ماشومانو په هیمولایتیک ناروغیو کې د Exchang transfusion د انتظار په موخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- د بیلروبین د اضافي سویې د لوړوالي د مخنیوي په خاطر.
- شاید چې په شدید کم وزنه ماشومانو کې وقایوي پوتوتیراپی استطباب و لري.

## د پوتوتیراپی مضاد استطبابات:

- د وینې د مستقیم بیلروبین زیاتوالي.
- **Mixed hyper bilirubenemia**
- ولادي ایریتروپویتیک پورپایرین.

## د فوتراپی اختلاطات:

- د حرارت لوړوالی.
- ډیهایدریشن.
- د پوستکې **rash**.
- د سترګو زخمونه.
- **Broze baby syndrome** . په هغه وخت کې چې د مستقیم **bilirubine** په حالت کې فوتوتراپي اجراشي.
- په کولمو کې د غیرمستقیم **bilirubine** او د زیاتې صفراوي مالګي له امله د غایطه موادو ضیاع.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## :Exchangs transfusion

په نووو زیږېدلو ماشومانو کې Exchangs blood transfusion هغه وخت اجراکیږي کله چې د بیلروبین د لوړ غلظت لپاره وصفي خطرات موجود وي چې په دغه صورت کې ماشوم ته د نامه د ورید له لارې Exchangs transfusion اجراکیږي. او باید چې د Exchangs blood transfusion د تطبیق لپاره ماهره او تجربه لرونکې پرسونل او مجهز سامان الات موجود وي. Umblical ورید د زیږیدنې څخه وروسته تر یوې اونۍ پورې خلاص وي چې یو مخصوص سروی Catheter په نوموړې ورید کې د Exchangs blood transfusion د تطبیق لپاره داخلیږي



(c) ketabton.com: The Digital Library



موخې:

۱) د وینې د دوران څخه د حساسو سروکرویاتو او د انتي باډي او د دوراني بیلروبن لرې کول او د کوچنې د کم خونی اداره کول.

استطبابات:


- د زیږیدنې څخه وروسته د حبل سروی (Cord blood) په وینه کې د هیموګلوبین د۱۲ ګرامو څخه کم وي.
- په ماشوم کې د Comb تیست مثبت وي.
- د بیلروبن اندازه د ۵ ملي ګرام څخه زیاته وي.
- د Reticulocyt شمیره د 15% څخه زیاته شي.

**Complication of Exchangs blood transfusion**

- Hypocalcemia
- Hypokalemia
- Hypervolemia
- Acidosis
- Hypothermia
- Infection
- Septicemia
- Peritonitis
- Reactions of blood
- Vomiting
- Aspiration
- Air embokism
- Portal vin thrombosis
- Necrotizing enterocolitis
- Anemia


(c) ketabton.com: The Digital Library





د EBT لپاره اړین سامان الات:

- دوه داني معقم لاس پاکي.
- شپږ داني ارتري فورسيپس.
- سپونج فورسيپس.
- ټوت فورسيپس.
- Scalpel blade.
- ګاز پيسز.
- سروي کيتيتر يا N G tube No 6
- Three way stop cock دوه داني.
- Disposable 30ml سيرينج دوه داني.
- Exchangs transfusion ريکارډ شيټ.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## د EBT د اجرا تخنینک :

مخکې له دې څخه چې ماشوم ته EBT شروع باید د منتخب ګروپ وینه اماده او سیږي، که وینه یخه وي لومړی باید لږه ګرمه کړای شي او د دې په خاطر چې ماشوم کم خونه نه شي په لومړی سایکل کې 10ml وینه داخل او بیرون کیږي او په پاتي نورو سایکلو کې 20cc وینه داخل اوبیرون کیږي چې هر دوران کې 100cc په نظر کې نیول کیږي او د هر سایکل په اخر کې د هایپوکلسیمیا او هایپوګلایسیمیا د مخ نیوي په خاطر 1cc Calcium gluconate او ورسره 4cc ګلوکوز 10 فیصده په قراره سره د وریدي کنولا له لارې رنځور ته ورکول کیږي.



## د Exchangs transfusion د تطبیق خواوې:

1. Umblical Vein
2. Umblical artery
3. Larg peripheral vein`

## عمومي تدابیر او پارماکولوجیک تیراپي:

1. په نوې زیږیدلو ماشومانو کې د زیړي لپاره لومړی باید د زیړی سبب تداوي شي.
2. په هغه صورت کې چې Septicemia موجوده وي انتي بیوتیک باید توصیه شي.
3. کافي شیدی باید ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د کوچنې په مور کې Rh-isoimmunization دمخ نیوي په خاطر Rh positive د Rh0(D) immuneglubulinد انجیکشن په واسطه د ماشوم ولادت په ۷۲ ساعتونو په دوران کې وکړل شي.
5. Phenobarbiton: فینوباربیتون د نوې زیږیدلی ماشوم د ځګرحجم زیات او د انزایمونو ، صفراوي مالګې او د صفرا د افرازاتو د زیاتوالې سبب ګرځي ، د فینوباربیتون اغیزې په نوې زیږیدلې full term ماشوم کې د ۳ – ۷ ورځې وروسته او په پریمیچور ماشومانو کې په ځنډ سره لیدل کیږي.
6. Metallo-porphyrins چې یو heme oxygenase نهې کوونکې دی توصیه کیږي چې د بیلروبین د تولید د کمیدو باغث کیږي.
7. د ولادت څخه وروسته 500mg/kg داخل وریدي ایمیونوګلوبولین په تطبیق سره داسې ښودل شوې ده چې د Exchangs transfusion اړتیا کموي.

## Kernicterus:
## (Bilirubine encephalopathy)

د بیلروبین encephalopathy د Kernicterus په نامه سره یادیږي ، kernicterus یو نیورولوجیک سندروم دی چې په عصبي حجراتو کې د غیر مستقیم بیلروبین د تراکم څخه منځ ته راځي ، غیرمستقیم بیلروبین په دماغو باندې ناوړه او توکسیک تاثیرات لري د غیر مستقیم بیلروبین دقیق مقدار او غلظت چې په انفرادي ډول سره د هرماشوم لپاره توکسیک وي معلوم نه دی.

### لنده پتالوجي:

کله چې غیرمستقیم بیلروبین چې په شحمو کې منحل دی اندازه یې د 20mg/dl څخه پورته شي په دغه صورت کې یه نوو زیږیدلو ماشومانو په عصبي حجراتو کې Blood brain barrier (BBB) کراس کوی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمومي ډول سره basal ganglia ، $3^{rd}$ او $4^{th}$ قحفي عصب هستې ته او نور عصبي مراکز رنګه کېدل دي چې په نوموړو برخو کې نیورونونه تخریبوي او د ماغي زیږی لامل ګرځي.

## کلینیکي تظاهرات:

- هغه ماشومان چې په kernicterus باندې اخته وي نیورولوجیک نښې په کې د ېرې لیدل کیږي.
- هغه ماشومان چې په ژور زیړی اخته وي ناڅاپي ډول سره لیترجي، ضعیف تی رودنه په کې لیدل کیږي.
- د Moro عکسې ضعیف یا نه شتون.
- لوړه او تیزه ژړا.
- د عضلاتي تون زیاتوالی.
- اپنیا.
- تنفسي بې نظمي.
- اختلاج.
- زیاتره کوچنیان د Kernicterus له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي هو هغه ماشومان چې تر یوکاله ژوندي پاتي شي اختلاج او عضلاتي شخوالي لري.
- وروسته د ژوند په دوهم او دریم کال بشپړ نیورولوجیک سندروم تاسس کوي چې په نوموړې سندروم کې دوه طرفه choreoathetosis ، Squints ، high tone deafness ، extrapyramida signs ، Seizures او دماغي وروسته والی.
- مړینه د تنفسي عدم کفایې او د جاري کوما له امله منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مخنیوی:

- یوځل چې Kernicterus رامنځ ته شي بیا غیررجعي وي.
- یواځې د Kernicterus مخ نیوي په فوتوتراپي سره او یا د وینې په تبدیلیدوصورت نیولای شي.
- البومین انفیوژن 1 gm/kg د هایپوالبومینیمیا لپاره امکان لري چې مرسته وکړي.
- د صوتي وظایفواو ایکستراپایرامیډل وظایفو لپاره د مکتب تر وخته د ماشومانو څارنه ډېره اړینه ده.

## د مور د شېدو زیړی(Breast Milk Jaundice) :

Breast Milk Jaundice د زیړی یو ډول دی یو شمیر ماشومان چې د مور د شېدو په واسطه تغذیه کیږي په متوسطه اندازه زیړی په کې لیدل کیږي چې وروسته د دوه هفتو څخه ښه والي حاصلیږي، د مور د شېدو زیړی دقیق لامل تر اوسه نه دی معلوم خوبیا هم داسې ویل کیږي چې د مور د شېدو زیړی د غیرمستقیم هایپربیلروبینیمیا وروستي پیل دی چې د څینو مېندو په سینوکې د اتصال یا دconjugation نهې کوونکې موجود وي چې څینې نهې کوونکي فکتورونه عبارت دي له pregnanediol ، ازاد شحمي اسیدونه او Steroids څخه.

د ۱۵ – ۱۰ ورځې عمر په موده کې، Hyperbilirubenemia د 30mg/dl-20 په اندازه لوړیږي او بیا په قراره سره د ۱۲ – ۴ هفتو عمر په موده رابنکته کیږي

## مقاوم یا Persistent زیړی :

مقاوم زیړی داسې واضح کولای شو چې هغه زیړی چې د دوه اونیو څخه زیات وخت ونیسي مقاوم زیړی ورته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسباب:

- د وخت څخه مخکې زیږیدنه.
- د مورد شېدو زیږی.
- هایپوتایریدیزم.
- ډاون سندروم.
- سریګلرنیجارسندروم.

## پتالوجیک زیږی:

خصوصیات:

- د دا ډول زیږی شواهد د ژوند د لومړی ورځې څخه موجود وی.
- د بیلروبین په یو ساعت کې دا 0.5mg/dl په اندازه لوړیږي.
- په term ماشومانو کې د بیلروبین اندازه 13mg /dl او په preterm ماشومانو کې د 15mg/dl په اندازه لوړیږي.
- د مستقیم بیلروبین فریکشن د 1.5-2.0mg/dl څخه لوړ وی.
- هیپاتوسپینومیګالي او کم خوني موجوده وي.

## مستقیم بیلروبین زیاتوالي:

## (Conjugated(direct)Hyperbilirubinemai

مستقیم هایپربیلروبینیمیا داسې واضح کیږي کله چې په وینه کې د مستقیم بیلروبین غلظت د 2mg/dl(34.2mmol/L) یا 20% د ټوټل بیلروبین څخه زیات شي.

عمومي پاملرنه:

- د مستقیم بیلروبین زیاتوالي د هیپاتوبیلري عدم فعالیت لپاره یوه نښه ګڼل کیږي.
- د مستقیم بیلروبین زیاتوالي د صفرا دافراز د نقیصې یا د بې کفایتی په نتیجه کې منځ ته راځي چې په دغه ځای کې یو عدم فعالیت موجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې د بدن څخه بیلروبین اخراج کړي چې دانقیصه همیشه پتالوجیک وي.

- کله چې د فزیالوجیک زیړی غیر مستقیم هایپربیلروبینیما په ځنګ شي ،په نوی زیږیدلي ماشومانو کې اکثره وخت مستقیم هایپربیلروبینیما وروسته د یوې اونۍ عمر څخه ښکاره کیږي.
- شاید چې نوموړې زیړی د هیپاتوسپلینومیګالي، خاسف غایطه مواد او د توررنګه ادرارو سره ملګري وی.

اسباب:

1. د صفرا د جریان بندښت.
   - بیلری ارتریزیا.
   - د صفرا قنات تنګوالي.
   - سیستیک فایبروزس.
2. د ځګر دحجراتو ژوبلونه.
   - انتانات لکه سیپسیس ، هیپاتایتس ، TORCH انتانات.
   - میتابولیک ناروغۍ. ذخیروی ناروغۍ ګلکتوسیمیا. فرکتوسیمیا .
   - جینیتکي ناروغۍ. لکه ډوبین جانسین سندروم او روتور سندروم.

تشخیص:

- د direct hyperbilirubenemia د ټولو شکمنو لاملونو په اړه دې منتخب تحقیقات اجرا شي.
- د direct,indirect,total بیلروبین اندازه.
- TFT, SGOT,SGPT معاینات باید اجرا شي.
- د وینې ، ادرارو ، Spinal fluid کلچر.
- TORH انتي بادی تایتر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- HbsAg حالت.
- د وينې او ادرارو ميتابوليک سکرينينګ.
- د ځګر تحت الجلدي بايوپسي

ادارہ:

اداره يې د مستقيم بيلروبين د حقيقي لامل په معلوميدو سره وضع کيږي.

په منتخبو انتي بيوتيکو په استعمال سره سيپسيس تداوي کيږي.

په Cholestatic jaundice کې د صفرا جريان سريع کول، د سويي تغذي مخه نيول، ويتامين فقدان د منځه وړل د تداوۍ اصلي مقصد دی.

د choletyramine او phenobarbiton استعمال دصفراجرايان تنبع کوي او د سيروم بيلروبين او د صفراوي مالګو اندازه راکموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (9)
# د منځني غوږ التهاب
# Otitis Media

## د منځيني غوږ حاد التهاب:
## Acute Otitis Media (AOM)

د منځيني غوږ التهاب يعنې د منځيني غوږ د جوف قيحي انتان او التهاب دی، دا ډول انتانات اکثراً د هغو انتاناتو په واسطه منځ ته راځی کوم چې د مخه په ناروغ کې د ستونې درد، ريزش يا د نورو تنفسي ناروغيو سبب شوې وي چې د نوموړې محراقاتو څخه يې منځيني غوږ ته سرايت کړی وی. ځکه منځني غوږ استاخين تيوب له لارې ستونې سره نښتي وي او که چيرې له درملنې پرته پريښودل شي په هغه صورت کې ځينې خطرونه لکه د غوږ مزمن التهاب ، کوڼوالی او د ډېر مهم ماستويديت(يعنې ماستويديت انتان د غوږ د شا هډوکي کې وتل) چې کولی شي د مننژيت او د دماغ د ابسې لامل شي چې دواړه ناروغی جدي مراقبت او تداوی ته اړتيا لري.

د منځني غوږ التهاب ي Otitis Media د ماشومتوب يو د ډېرو عامو انتاناتو له جملې څخه ګڼل کيږي، نوموړې ناروغي په هر عمر کې کوچنيان مصابولای شي خو بيا هم وقوعات يې د شپږومياشتو څخه تر درې کالو عمر په مابين کې ډير ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسباب:

1. باکتریا: باکتریا د ټولو لاملونو په نسبت یو ډیر معمول اجینټ دی چې د منځني غوږ التهاب رامنځ ته کوي، ترټولو زیات عام اورګانیزمونه عبارت دی له..
   - Streptococcus pneumonia(15-40%)
   - Haemophilus influenza (15-25%)
   - Moraxella catarhalls(12-20%)
   - Group A streptococcus
   - Staphylococcus aureus(acut and chronic otitis media)
   - Paeudomonas aeruginosa(chronic otitis media)
2. ویروسونه: ویروس د غوږ د التهاب د مستقیم سبب لپاره دومره مهم نه دی خو په هر حال د پورتني طرق تنفسي ویروسي انتانات د استاخین تیوب بندښت رامنځ ته کولای شي چې د باکتریاګانو د نشونما لپاره زمینه مساعدوي.

## پتوجینیزس:

کله چې د Eustachian تیوب مجرا د موضعی انتاناتو په واسطه یا د ضخاموی ادینوید له امله وتړل شي، باکتریاګانې مینځني غوږ ته ځان رسوي، د مینځني غوږ جوف ایسار شوی هوا له سره رشف او جذبیږي او په نوموړې جوف کې منفي فشار مینځ ته راځي او جوف ته د باکتریا د رارسیدو زمینه مساعد ګرځوي دغه د باکتریاګانو رارسیدنه مینځنی غوږ ته اوله جوف ځخه د افرازاتو نه راوتنه او بندش بلعوم ته د دی سبب کیږي چې د متوسط غوږ کې مایع راټوله شي او د باکتریاوو په واسطه سره منتن شی،

## مساعد کوونکي فکتورونه:

- هغه ماشومان چې په غریبو کورنیو کې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماشومان چې عمرونه یې د یو کال څخکه کم وي.
- ډاون سندروم.
- په یخو ارتفاعاتو کې اوسیدل.
- په اب او هوا کې ناڅاپی تغیر راتلل.
- ساختماني نقیصه چې چې استاخین تیوب دنده خرابوي لکه Cleft palate
- د معافیت فقدان..

## کلینیکي تظاهرات:

- نوزادان او ماشومان شاید چې اعراض ونلری او یا لاندې اعراض به په کې موجود وي.
- مخرشیت.
- تبه
- کانګې.
- اسهالات
- د غوږ درد.
- د ماشومانو په واسطه د اخته غوږ کیکارل.
- د اواز د اوریدو ضیاع.
- د غوږ افرازات.
- د ماشومانو ژړا کول.
- په غوږ کې د اجنبي اجسامو حس کید.
- بې خوبي.

اختلاطات:

1. Mastoiditis
2. Meningitis

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. Hearing loss

## تشخیص:

د منځیني غوږ د التهاب د تشخیص لپاره لاندې میتودونه په کار اچول کیږي.

## Otoscope

د کوچنیانو ډاکټران د کوچنیانو د غوږد التهاب د معلومولو او تشخیصولو لپاره یوه اله کاروي چې د Otoscope په نامه سره یادیږي د دغې الې په مرستې سره کولای شو چې د غوږ داخلي مجرا وګوراو اړونده نقیقه یا کوم التهابی حالت معلوم کړو، د غوږ د معاینې پر مهال باید معاینه کوونکې لاندې شیان په نظر کې نیولو سره د غوږ بشپړ ارزیابي وکړي.

- ✓ سوروالی.
- ✓ پړسوب.
- ✓ وینه.
- ✓ افرازات.
- ✓ په منځیني غوږ کې د مایع موجودیت.
- ✓ د غوږ د بهرنی مجرا پړسوب.

## Tympanometry

د tympanometry test په دوران کې ډاکټریوه وړه اله کاروي چې په مرسته یې د غوږ فشار معلومیږي او که چیرته eardrum ریچر کړی وی هم یې معلوموي.

## Reflectomety

د reflectometry ټیسټ په دوران کې ډاکټریوه وړه اله کاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کوچني د غوږ په خوا کې اواز وباسي چې په مرسته یې یو ډاکټر کولای شي د اواز په اوریدو سره چې بیرته اواز منعکس کیږي د غوږ په داخل کې مایع معلومه کړي.

Hearing test

د اواز د اوریدو معاینې سره د یوماشوم یا د یوناروغ د اواز د اوریدو قابلیت معلوموي.

Ear discharge culture

Needle aspiration and culture of the middle ear contents په هغه صورت کې چې دغوږ افرازات نه وي

## تداوي:

**Acute Otitis Media(AOM)**

- ماشومان ته باید ارام وکړل شي.
- مایعات او کافي غذا ورته توصیه شي.
- د غوږ فرازات یې د یو معقم ګاز په واسطه پاک کړای شي.
- د درد لپاره ورته انلجیزیک یا د درد ضد درمل توصیه شي.
- د تبې په خاطر ورته انتي پایریتیک ورکړل شي.
- د تداوۍ په لومړي قدم کې ورته د ډېرو معمولو مایکرو اورګانیزمونو (S.Pneumoniae and H. Influenzae) په ضد درمل ورته توصیه کیږي خو کله چې د کلچر او حساسیت نتیجه معلومه شي درمل یې بدلیږي، د منځیني غوږ حاد التهاب کې انتخابي درمل Amoxicillin (80-90mg/kg/day) په درې تقسیم شوو ډوزونو باندې د ۱۰ ورځو لپاره. همدازنګه نور درمل چې د منځیني غوږ حاد التهاب کې ورکول کیږي په لاندې ډول دي. تداوی د ۱۰–۷ ورځو لپاره توصیه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- clavulanic acid
- Erythromycin
- Sulfamethoxazole
- Cefaclor
- Cefuroxim
- Trimethoprim-sulfamethoxaole
- Cefixime

- د penicillin-resistant pneumoccocci لپاره دوهم اپشن Ceftriaxone 50mg/kg/day IM د ورځې يو ځل تو‌ټل دوزونه ۳-۱ورکول کيږي يا Macrolide antibiotic (azithromycin)
- هغه ناروغان چې د انتي بيوتيکو د دوهم کورس توصيه کيدو باوجود هم شفاياب نه شي او يا ناروغي يې لا هم شديده شي نو په دغه صورت کې د tympanocentesis په اړه فکر کيږي چې تر څو اصلي سببی لامل په ګوته شي او دقيق انتي بيوتيک ورته توصيه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (10)

# د نوي زيږيدلي ماشوم اسپيکسيا

## Birth Asphyxia/Perinatal Asphyxia Or Neonatal Asphyxia

د نوي زيږيدلي ماشوم اسپيکسيا يو طبي حالت دی چې د يونوي زيږيدلي ماشوم د ولادت په وخت د اوکسيجين د محروميت څخه منځ ته راځي يعنې کله چې يو نوی زيږيدلي ماشوم تر بشپړې زيږيدنې سمدستي وروسته په بنفسهي ډول سره تنفس پيل نه کړي نونومو ړې حالت منځ ته راځي او که چيرته د زيږيدنې د وخت اسپيکسيا په وخت سره او په جدي ډول سره تداوي نه شي نو په نتيجه کې خطرناک اختلاطات منځ ته راځي او د Encephalopathy له کبله د مرکزي عصبي سيستم حجرات په دايمي ډول سره زيانمنې کيږي چې ښايي د نوي زيږيدلي ماشوم د مړينې اويا په موخر ډول سره د cerebral palsy او mental deficiency سبب شي. نو په جامع ډول سره د زيږيدنې د وخت اسپيکسيا په دا ډول تعريفوو، که چيرې يو نوی زيږيدلي ماشوم د پوره زيږيدنې يا ولادت څخه وروسته سمدستي په بنفسهي ډول سره خپل تنفس شروع نه کړي د زيږيدنې د وخت اسپيکسيا په نوم يادېږي اويا د ماشوم د زيږيدنې د عمر په لومړيو ۱- ۵ دقيقو کې د ابګار سکور درجه د ۵ څخه ښکته شي او يا د وينې PH يې ټيټ شي د زيږيدنې اسپيکسيا ورته وايي.

Hypoxia: هغه حالت ته ويل کيږي چې د شرياني وينې اکسيجن د نورمال حالت څخه کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ischemia: هغه حالت ته ویل کیږي چې د حجراتو او اورګانونو د وینې جریان کم او خپل نورمال وظایف رسولای نه شي.

د خطر فکتورونه:

مورني عوامل.

- د وینې لوړ فشار په شمول د ایکلامپسیا او پري ایکلامپسیا.
- د حوصلې ابنارملتې.
- د شکر ناروغي.
- د نیپرونونو التهاب.
- د وینې ټیټ فشار.
- انتانات.

پلاسینتا پورې اړوند عوامل:

- Abruptio پلاسینتا.
- د توکسیمیا له امله د پلاسینتا بی کفایتي.

د جین پورې اړونده عومل:

- کم خوني.
- انتانات.
- د قلبي او تنفسي ستونزو له امله هایپوکسیا.

د زیږیدنې د وخت اسپیکسیا سبب:

د انیستیزیا، د قلبي ناروغیو، نمونیا، تنفسي عدم کفایه، د هایپوتینشن له کبله د ولادت د وخت د مور کم فشار د ابهر او ویناکاوا د کومپریژین له کبله ) په وخت کې د مورنۍ وینې غیر کافي اوکسیجن رسیدنه.

سریري تظاهرات:

- د وینې د PH کموالي د ۲. ۷ څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اسیدوزس.
- دجنین Distres په حالت کې چې د امنیوتیک مایع کې میکونیم موجود وی.
- خسافت.
- سیانوزس.
- اپنې.
- د زړه د ضربان کموالی
- د تنبه په مقابل کې د عکس العمل نه ښودل.
- تنفسي عدم کفایه.
- د ماشوم دعضلاتو د تون کموالې.

لنډه پتوفزیولوجي:

د بیرت اسپیکسیا پتالوجي د ناروغۍ دوخامت اودارګان د مصابیدو سره تړاو لري.

د اسپیکسیا پیل په لاندې حالتونو په تعقیب سره پیل کیږي.

میتابولیک اسیدوزس.

هایپوګلایسمیا.

هایپوتېنشن.

د دماغي وینې په جریان کې تغیر راتلل.

په مرکزي عصبي سیستم د شعریه عروقو دنفوذیه قابلیت د زیاتوالي له امله د مایع لیکاژ مینځ ته راځي چې cerebral اذیما او حجروی مړینه رامنځ ته کوي.

میتابولیک پایلې:

د ګلایکولایزس سریع کیدل سره د brain lactate levels د زیاتوالي سره او ورسره د high energy phosphate concentration کې کمښت را مینځ ته کیدل..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دماغي وينې په جريات کې بدلون راتلو سره لاندې ميتابوليک تغيرات رامنځ ته کيږي.

- په لومړي قدم کې د دماغي وينې په جريان کې ډېرښت.
- وعايي يا واسکولر autoregulation له مينځه تلل.
- د وينې د فشار کمښت او بيا د Cerebral blood flow کې کمښت رامنځ ته کيدل چې دا ټول پورتنې حالتونه د زيږيدنې دوخت اسپيکسيا رامنځ ته کوي.

تشخيص:

د اسپيکسيا د تشخيص لپاره خصوصي کلينيکي ميتودونه موجود دي دوينې بيوشيميک معاينات اجرا او د نومورو معايناتو څخه د يو لارښود په ډول کار اخيستل کيږي.

د ولادت څخه مخکې:

د بيرت اسپيکسيا د خطرفکتورونو پيژندل او د هغې لپاره اړين د قدامات نيول.

ټولې مېندې د ولادت په دوران کې کم څه کم څلور پنځه واري نږدې روغتيايي مراکزو ته يا د ولادي نسايي متخصص يا ډاکترانو ته مراجعه وکړي ترڅو د وخت څخه دمخه د هغوروغتيايي ستونزو مخه ونيول وشي چې د ولادت په وخت کې د اسپيکسيا يا د نورو روغتيا ستونزو لامل گرځي.

به کارديو گراپي باندې د جنين Tachycardia، bradycardia او يا -late Deceleration حالت معلوميداى شي.

په التراساوند باندې د جنين د فعاليت کموالې. د جنين د تنفسي حرکاتو کموالي او يا په Liquor کې د ميکونيم د موجوديت له امله fetal distress معلوميداى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسپیکسیا ماشومانو ۷۰ فیصده د خطرفکتورونه له زیږیدني څخه مخکې معلومیدای شي اوپاتي ۳۰ فیصده ماشومانو د خطر فکتورونه لانه معلومیږي.

د ولادت په وخت کې:

د ولادت په وخت کې د APGAR سکور د اندازي ښکته والي د ټولو څخه زیاته استعمالیدونکې کریتیریا ده چې تریو حده د زیږیدني د وخت اسپیکسیا پرې تشخیص کیدای شي. د اپګار سکور په دې طریقه کې دماشوم تنفسي حالت،رواني حالت او عصبي حالت څیړل کیږي، که د پنځودقیقوڅخه زیات وخت لپاره د APGAR سکوراندازه که ۳ شااوخواکې وي د زیږیدني د وخت اسپیکسیا شواهد په ګوته کوي خوپه هر حال شاید چې په preterm ماشوم کې low apgar scor د زیږیدني د وخت اسپیکسیا په ګوته نه کړي چې نوموړې ماشومان د ولادت په وخت هایپوتونیک ،د اطرافوسیانوزس او د تنبه په مقابل کې کم ځوابه وي.

په غیر asphyxiated ماشوم کې شاید چې low apgar scor موجود وي چې امکان لري چې لاملونه یې لاندې حالتونه وي.

Depression from meternal anesthesia or analgesia

Trauma، نیورومسکولرناروغي، انتانات او داسې نور.

خو داسې به ووایو چې د ماشوم د حالت د ارزیابي لپاره ابګار سکور یو ښه اینډیکیټور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



APGAR SCOR

| A | 0 | 1 | 2 |
|---|---|---|---|
| Appearance (color) | Blue,pale | Body pink Extremities blue | Fully pink |
| P Pulse(heart rate) | Absent | Below 100 | Over 100/min |
| G Grimace (respons to stimulation | No response | Facial Grimace | Cry |
| A Activity (muscle tone) | Flaccid | Some flexion | Normal with move |
| R Respiration | Absent | Gasping | Regular |

په عمومي ډول سره اپګار سکور په ۱. ۵ ، ۱۰ او ۱۵ دقیقو کې اندازه کیږي.

## د اپګار سکور ډله بندي:

1) نارمل اپګار سکور............. له ۸ څخه زیات.
2) متوسط اپګار سکور.......... له ۴ څخه تر ۸ پورې.
3) ډېر ښکته اپګار سکور........ له ۴ څخه ښکته نمبر اخلي.

## د اسپیکسیا اختلاطات:

1) مرکزي عصبي سیستم: Hypoxic Ischemic encephalopathy.
2) پښتورګي: د پښتورګو د تیوبولونو حاد نیکروز.
3) تنفسي سیستم: میکونیم ایسپایریشن. تنفسي ډیسترېس سندروم، د سږو مقاوم لوړ فشار، اپني.
4) قلبي وعايي سیستم: د میوکارد التهاب. اسکیمیا. قلبي عدم کفایه. ټرایکسپید او میټرال ریګرجیټیشن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5) د معدی او دامعاو سیستم: د معدې زخم ، نیکروټایزینګ اینټیروکولایټیس او د کولمو پرفوریشن.
6) د وینې سیستم : ډیسټامینیټید اینټراواسکولرکواګولیشن . د نووزیږیدلو ماشومانو د هیموراژیک ناروغیو دخطرزیاتوالی.
7) میټابولیک: په کمه اندازه هایپوګلایسیمیا ،

## :Hypoxic Ischemic encephalopathy

په نووو زیږیدلوماشومانو کې د اسپیکسیا له امله اول هایپوکسیا او اسیدوزس مینځ ته راځي او بیا په ثانوي ډول د نیونیټل اینسیپلاپتی لامل ګرځي چې په لاندې چوکاټ کې په دریو سټیجونو ویشل شوې ده .

| Stages of hypoxic ischemic encephalopathy. | | | |
|---|---|---|---|
| **Signs** | **Stage 1** | **Stage 2** | **Stage 3** |
| Level of Consciousnes | Hyperalert | Lethergic | Stuporous,coma |
| Muscle tone | Normal | Hypotonic | Flaccid |
| Posture | Normal | Flexion | Decerebrate |
| Tendon reflexes | Hyperactive | Hyperactive | Absent |
| Moclonus | Present | Present | Absent |
| Moro reflex | Strong | Weak | Absent |
| Pupils | Mydriasis | Miosis | Unequal,poor light reflex |
| Seizures | None | Common | Decerebrate |
| EEG | Normal | Low voltage | Burst suppression changing to isoelectric seizure activity |
| Duration | <24hr | 24 hr to 14 day | Days to weaks |
| Outcome | Good | Variable | Death,sever deficitis |

د اسپیکسیا تداوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اسپیکسیا د تداوۍ یو اصلي هدف دا دی چې د اسپیکسیا د نور حملو مخه ونیول شي.
- ټول نوي زیږیدلي ماشومان باید د وخت څخه دمخه د اسبیکسیا لپاره ارزیابي شي او د لوړ خطرواله ولادتونه دې په دوام دار ډول څارنه وشي او ښه ولادي خدمات دې ورته وړاندي شي او په ولادت خانه کې دې په درست ډول سره د ټولو نوو زیږیدلو ماشومانو resuscitation اجرا شي.
- د حرارت درجه دې کنترول شي او د هایپوترمیا څخه دې کوچني وژغورل شي.
- د کوچني حیاتي علایم او output دې په درست ډول سره ریکارډ شي.
- که د ناروغ حالت ډېر وخیم وي او یا ختلاج ولري په دغه صورت کې باید د خولې له لارې څه شی ورنه کړل شي.
- د ګلوټیک د برخې سکشن دې اجرا شي ترڅو تنفسي لاره د وینې، مخاط او مایکونیم څخه پاکه شي او د ماشوم د پښې د ګوتو د ورو ورو ضربو په واسطه تنبع او اکسیجن د بیګ او ماسک په واسطه د فمي بلعمومي airway د اخلولو څخه وروسته د اړتیا مطابق تطتیقیږي.
- هایپوکسیا د (4L/minute) اوکسیجین سره تداوي کړۍ او په هغه صورت کې چې hypercarbia واقع شوې وي Intermittent positive pressure ventilation (IPPV) ورکول کیږي.
- د اسیدوزس په صورت کې باید بای کاربونیت د یو متخصص یا د تجربه کار ډاکتر په واسطه ورکړل شي څکه د سودیم بای کاربونیت زیات مقدار hypercarbia او د hypernatremia د رامنځ ته کېدو خطرزیاتوي او هم ېې زیات مقدار د دماغي اذیما چانس زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که ناروغ هایپوګلایسیمیا (Blood glucose <50mg/dl) ولري 2ml/kg of D/W10% په یوه دقیقه کې او بیا د د وینې د عادی ګلوکوز د برقراره ساتلو لپاره 6-8mg/min ورکول کیږي.
- Hypocalcemia: (Blood calcium <7mg/dl) په اعراض لرونکې (اختلاج اپنی، تیتانی) کیسونو کې Clacium gluconat 1-2mg/kg 10% IV د پنځو دقیقو په جریان کې تطبیقیږي که چیرته نوموړې تداوي نتیجه ورنکړي نوموړې دوز ۱۰ دقیقې وروسته بیا تکراریږي.
- همدارنګه د تولد د دوه ساعتونو په دوران کې ورته وقایوي Vit K IM تطبیقیږي.
- هغه ماشومان چې په شدیده اسپیکسیا باندې اخته وي دزړه د وضعی له نظره نوموړې ناروغان په دریو ګروپوویشل کیږي لومړي هغه ناروغان چې د زړه ضربان یې په یو دقیقه کې د ۱۰۰ څخه پورته وي، دوهم د زړه ضربان په یوه دقیقه کې ۱۰۰ څخه کم وي او دریم د زړه ضربان هیڅ موجود نه وي او په دې هغه ناروغان چې د زړه ضربان یې هیڅ موجود نه وي په عاجل ډول سره ورته د سکشن څخه وروسته IPPV په واسطه ورته وینتیلیشن اجراکیږي او خارجي قلبي مساج ورته د منځنۍ او اندیکس ګوتو په واسطه اجراکیږي که چیرې د ۴-۵ دقیقو په موده کې ناروغ کې تغیر رانشي نو په دې حالت کې ادرینالین د ۱۰۰۰۰: ۱محلول څخه یوملي لیتر اینتراکاردیک او یا داخل په ورید کې تطبیقیږي.
- که چیرته د انتان خطر مواجه وي په دغه صورت باید مناسب انتي بیوتیک ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسپیکسیا د اختلاطاتو تداوي:

1) Seizures:
Phenobarbiton 20mg/kg loading dose slow IV
تعقیبی دوز 3-5mg/kg/day

2) Cerebral odema : Fluid restriction او په اختیاط سره د ایلیکترولایتونو په څارنې سره او شاید چې د hypertonic sclution د 20% مانیتول (0.5-1.0g/kg/dose IVover 20 min) په دوران کې.

3) Hypotention: پلازما او انوتروفیک سپورت لکه ډوپامین.

4) Cardia failure: تداوي په Digoxin او .Inotropic support

5) د ادرارو Out put باید په ډېر احتیاط سره وڅارل شي او باید د 1ml/kg/hr څخه پورته شي.

6) Apnea and Carbon dioxide retention په IPPV سره.

# ماخذونه

1. Basis of Pediatrics. 8th Edition.Parvez Akbar khan
2. Practical Paediatric Guide by Dr.Malte L von Blumroeder.
3. Ghai Essential Pediatrics 8th Edition.
4. Children Diseases Volume 1 by Professor Dr Ahmad Siar Ahmady
5. Treatment Guide 8th Edition by Muhammad Inayatullh and Shabbir Ahmad Nasir.
6. Medical Diagnosis and Management Eleventh Edition By Dr Muhamad Inam Danish.
7. Childrens Common Diseases by professor Dr Abdul Satar Niazi
8. Medical Emergency Treatment by Dr Sayed Malyar Sadat.
9. Drug Dosages in Children 8th Edition By Meharban Singh and Ashok K. Deorari
10. Pediatrics Diseases:by dr Sultan Muhamad Safi
11. Treatment Guidelines of Pediatrics : by Dr Mansoor Aslamzai MD Associat prof of Pediatrics.
12. Our Environment(how to keep our environment clean) by Dr.Sayed Malyar Sadat
13. www.healthline.com
14. https/en.wikipedia.org
15. www.healthcomunites.com
16. د کوچنیانو ناروغۍ . لومړی ټوک : لیکوال: پوهاند دوکتور عبدالستارنیازی.
17. انتاني ناروغۍ. پوهنوال ډاکټرعبدالناصرجبارخیل.
18. د ملاریا ناروغۍ د درملني ملي لارښود (کال ۱۳۸۹)
19. د درملنې ملي معیاری لارښود د لومړنیوروغتیایي خدمتونو مرکزونو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال پېژندګلوي:



ډاکټر سید ملیار سادات د ارواښاد استاد سید غلام علي سادات زوی دی، چې په ۱۳۶۳ کال د کونړ ولایت په نورګل ولسوالۍ د بر نورګل کلي د ساداتو په کورنۍ کې زیږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې یې د ننګرهار په عالی لیسه ترسره کړې او بیا وروسته په ۱۳۸۲ کال د نورګل مزار لیسې څخه په اعلی درجه فارغ شوی دی او په ۱۳۹۱ کال د پکتیاپوهنتون د معالوجوی طب څخه فارغ شوی، نوموړی یو هڅاند ځوان دی او په خپل مسلک پورې د اړونده کتابونو ترڅنګ د پښتو ادب مطالعې سره ځانګړې مینه لري، چې اوس یې پښتو ادب سره د ډېرې مینې له امله په خپل مسلک کې د څینو کتابونو د لیکلو تکل کړی دی.
ډاکټر صاحب یو هڅاند ځوان دی او په خپل مسلک پورې د اړوندو کتابونو ترڅنګ د پښتو ادب مطالعې سره ځانګړې مینه لري، چې اوس یې پښتو ادب سره د ډېرې مینې له امله په خپل مسلک کې د څینو کتابونو د لیکلو تکل کړی دی.
د سادات صاحب د همدې تکل او مزل څینې نورې بېلګې هم شته، چې یو څه یې په کتابي بڼه چاپ شوی او د نورو یې تر دې وروسته د چاپ په هڅه کې دی چې چاپ او ناچاپ آثار یې په لاندې دول دي.

1. د پېغلو دژوند پټ انځور(چاپ)
2. د نشه یي توکو زیانونه(چاپ)
3. بیړنۍ طبي درملنې (ژباړه چاپ)
4. سګرټو ځان وژغورئ (چاپ)
5. پر روغتیا د شرابو اغېزې (چاپ)
6. زموږ چاپېریال ( چاپ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. انساني عظمت(چاپ)
8. د داخله ناروغيو اساسات، ليکوال ډاکترابراهيم شينواری(دوهم واری کتنه او زياتونه) چاپ)
9. پر روغتيا د شرابو (الکولو) اغېزې(چاپ)
10. لس ټاپ ناروغی ، همدا اثر (چاپ)
11. زموږ چاپېريال (دوهم ځل چاپ)
12. طبابت که تجارت. ناچاپ
13. د بريالار (ناچاپ)
14. د ژوند حقيقت (ناچاپ)
15. اسلام او معاصر طب
16. په افغانستان کې د نشه يانو د ژوند رينبتني انځور(ناچاپ)
17. د والدينو حقوق (ناچاپ)
18. ورځني مېډياوې او افغاني کلتور(ناچاپ)
19. د اروابناد استاد سيد غلام علی سادات ژوند ته لنډه کتنه(ناچاپ)
20. کارډيولوژی(ناچاپ)
21. ژوند او رژېدلې هېلې.

سادات صاحب وروسته د طب پوهنځي د فارغيدو څخه د هېواد په لرې پرتو سيمو کې په مختلفو روغتونونو او کلينيکونو کې د ډاکترپه صفت دندې ترسره کړی چې دا مهال هم په خپلو دندو بوخت دی.

په درنښت
نوراغا سعيد
توحيد غږ راډيو
کنړ/نورګـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Top Ten Diseases

## Introduction, Causes, Signs & Treatment

1. Common Cold
2. Acute Watery Diarrhea
3. Malaria
4. Pneumonia
5. Bronchiolitis
6. Measles
7. Bacillary Dysentery
8. Neonatal Jaundice
9. Otitis Media
10. Birth Asphyxia



By: Dr. Sayed Malyar Sadat

Designed by: Abdul Hadi Asar

ختیځ خپرندویه ټولنه

چاپ چاري

د ختیځ خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه- جلال اباد

facebook.com/ختیځ خپرندویه ټولنه

۰۷۷۲۷۱۹۰۳۰-۰۷۷۱۱۰۴۲۴۳

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library